شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤هـ.ش/ دوهم پراو / ۱۱۰۸ ګڼه / پنجشنبه د صفرالمظفر لومړی ۱٤٤۸ هـ.ق / د چنګاښ ۲۵مه ۱۴۰۵ هـ .ش/ د جولای ۱٦مه ۲۰۲۶ میلادي

قزاقستان ته د خامو معدني موادو صادرولو هوکړه وشوه

د قزاقستان د صنعت او ودانیزو چارو وزیر یرسعین ناکاسپایف ویلي: هېواد یې د فلزاتو د ذوب او فلزي صنعتونو لپاره د اړتیا وړ خامو معدني توکو د دایمي برابرۍ په موخه له افغانستان او قرغیزستان سره د وارداتو هوکړې ته رسېدلی. «قازاینفورم» خبري اژانس په خپل راپور کې د نومورې په حواله ویلي: د قزاقستان د فلزي صنعت تولید د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۹۷.۳ سلنې ته رسېدلی، خو په ځینو صنعتي تأسیساتو کې د پلان شویو ترمیماتو او د کورنیو معدني سرچینو... ۷مخ

د ژوند لنډ مزل او د بې‌پایه ثوابونو زرین فرصتونه ۲مخ

ایا غزه هېره شوې ځمکه ده؟ ۲مخ

فکري خپلواکي؛ د ملتونو د عزت او پرمختګ راز ۳مخ

د برېښنا سپما د هر افغان ملي او وجداني مسئولیت دی ۳مخ

سردار محمد داوود ولې کودتا وکړه؟ ۴مخ

د اسلامي امارت زعیم:

د واخان دهلیز د سړک جوړولو چارې دې ګړندی شي

د بدخشان والي محمد اسماعیل غزنوي ویلي: د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» ځانګړی حکم صادر کړ، چې د واخان دهلیز د سړک د جوړولو چارې دې ژر تر ژره بشپړې او پروژه دې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د غزنوي په خبره، د واخان دهلیز د سړک پروژه د اسلامي امارت له مهمو لومړیتوبونو څخه ده.

ده ویلي: «دا یوه ستره پروژه ده. ځینې خلک فکر کوي چې ښایي کارونه یې لا نه وي پیل شوي، خو د امیرالمومنین له لوري د دې لارې د پروژې د ژر بشپړېدو لپاره ځانګړی او عاجل حکم صادر شوی دی.» ۷مخ

گسترش همکاری‌های تخصصی و معیاری میان کابل و تهران

رئیس ادارهٔ معیار و کیفیت افغانستان و سفیر ایران در کابل در دیداری بر تداوم تعاملات سازنده، گسترش همکاری‌های تخصصی و بهره‌گیری از ظرفیت‌های موجود به‌منظور تقویت روابط تجاری میان دو کشور تأکید کردند.

در خبرنامهٔ ادارهٔ معیار و کیفیت آمده‌است که ملا عبدالله حاجی بشیر، رئیس عمومی این اداره با علیرضا بیکدلی، سفیر ایران در کابل دیدار و دربارهٔ تقویت همکاری‌های دوجانبه و گسترش تعاملات تخنیکی و اقتصادی گفتگو کرد.

ملا عبدالله حاجی بشیر گفته‌است که معیاری‌سازی صادرات و واردات از مسئولیت‌های اساسی ادارهٔ معیار و کیفیت است و رعایت معیارها از سوی تاجران ... ص۷

هند: له افغانستان سره مو د هوایي دهلیز له لارې سوداګري له کوم ځنډ پرته دوام لري

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې د کابل او نوي ډهلي ترمنځ سوداګریزې اړیکې لا هم د هوایي دهلیز له لارې په منظم ډول روانې دي او تر اوسه په دې برخه کې کوم خنډ یا خنډ نه دی رامنځته شوی. د دغه وزارت ویاند رندیر جیسوال په یوه خبري ناسته کې ویلي،...۷مخ

هرات کې د تولید شویو جامو دویمه جوپه عراق ته صادره شوه

د هرات د جامو تولیدوونکو اتحادیې ویلي، چې د دغه ولایت د تولیدي جامو دویمه جوپه عراق ته صادره شوې ده.

د یادې اتحادیې د معلوماتو له مخې، په دې صادراتي محموله کې شاوخوا ۸۰ زره جوړې جامې شاملې دي، چې ټولیز ارزښت یې نږدې ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو ته رسېږي. ۷مخ

آغاز کار دو پروژه انکشافی در ریاست زندان کندز

مسئولین ریاست زندان کندز می‌گویند که به ادامه تطبیق پروژه های انکشافی و ایجاد سهولت برای محبوسین ، کار ترمیم و بازسازی پایواز خانه ها و حفر یک حلقه چاه آب سپتیک را آغاز نموده اند.

مولوی احسان الله غازی آمر مالی و اداری ریاست زندان کندز می گوید که این پروژه ها که شامل ساخت و ترمیم پایواز خانه ها و حفر یک حلقه چاه عمومی سپتیک میباشد به ارزش ۲ میلیون افغانی از بودجه ریاست عمومی تنظیم امور زندان ها در مدت یک ماه اعمار می گردد.

سرمقاله

د کمیت پر ځای باید کیفیت ته لومړیتوب ورکړل شي!

د هر هېواد د پرمختک بنسټیزه پانګه باکیفیته بشري ځواک دی. هغه ملتونه چې د علم، ټېرنې او نوښت په ډګر کې مخکښ شوي، د خپلو لوړو زده‌کړو نظام یې د کیفیت پر بنسټ جوړ کړی او د وخت له اړتیاوو سره یې برابر کړی دی. افغانستان هم که غواړي د اقتصادي ودې، علمي خپلواکۍ او نړیوالې سیالۍ پر لور کرندې کامونه واخلي، نو اړ دی چې د لوړو زده‌کړو په پالیسۍ کې د کمیت پر ځای کیفیت ته لومړیتوب ورکړي.

د ساینس، ټکنالوژۍ، انجنیرۍ، معلوماتي ټکنالوژۍ او مصنوعي خېرکتیا برخې نن د نړۍ د پرمختک اصلي محرکې ګڼل کېږي. له همدې امله اړینه ده چې د هېواد د اړتیاوو او راتلونکو فرصتونو په پام کې نیولو سره په دغو برخو کې تخصصي پوهنتونونه او معیاري ټېرنیز مرکزونه رامنځته شي، ترڅو د علم تولید، نوښت او عملي مهارتونو ته زمینه برابره شي.

یوازې د پوهنتونونو شمېر زیاتول او هر کال د زرګونو محصلینو فراغت د بریا معیار نه شي ګڼل کېدای. لوړې زده‌کړې هغه وخت خپل اصلي هدف ته رسېدلی شي چې فارغان یې د علمي وړتیا، عملي مهارت، ټېرنیز فکر او مسلکي وړتیاوو له پلوه د هېواد اړتیاوې پوره کړای شي. که کیفیت له پامه وغورځول شي، د ډیپلومونو زیاتوالی به د پرمختک تضمین نه وي، بلکې د علمي نظام پر وړاندې به نوې ننګونې هم رامنځته کړي.

د لوړو زده‌کړو وزارت کولای شي د نصابونو د عصري کولو، د استاذانو د علمي ظرفیت د لوړولو، د لابراتوارونو او ټېرنیزو مرکزونو د پیاوړتیا او له نړیوالو علمي تجربو د ګټې اخیستنې له لارې د کیفیت د لوړولو لپاره اغېزمن کامونه پورته کړي. همدارنګه د مصنوعي خېرکتیا، سایبري امنیت، روبوټیک، ډیټا ساینس او نورو پرمختللو برخو تدریس باید د هېواد د علمي پالیسۍ مهمه برخه وګرځي.

اوس نړۍ داسې حالت ته رسېدلې ده چې علمي سیالي د هېوادونو د خواک او نفوذ مهم معیار ګرځېدلی دی. مصنوعي خېرکتیا، نوې...۷مخ

میدان وردګو کې د خبریالانو او لیکوالانو د ظرفیت لوړونې په موخه سیمینار جوړ شو

امارت اسلامی افغانستان
وزارت اطلاعات و فرهنگ
معینیت امور نشرات
سیمینار یک روزه ارتقای ظرفیت فکری، عقیدتی و مسلکی خبرنگاران و ژورنالیستان
۲۹ محرم الحرام
ریاست اطلاعات و فرهنگ ولایت بامیان

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت له لوري په میدان وردګو کې د خبریالانو، لیکوالانو او قلموالو د فکري، عقیدوي او مسلکي ظرفیت لوړونې په موخه سمینار جوړ شو. ۷مخ

عقد قرارداد ایجاد سایت‌های مخابراتی جدید در هفت ولایت کشور

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی می‌گوید که به‌منظور گسترش خدمات مخابراتی و انترنیتی در مناطق دورافتاده و محروم کشور، قرارداد ساخت ۱۱ سایت مخابراتی را به ارزش ۱.۱ میلیون دالر امریکایی با سه شرکت مخابراتی در هفت ولایت امضاء کرده‌است. براساس خبرنامهٔ این وزارت، این سایت‌ها از بودجهٔ پروژهٔ یازدهم صندوق توسعهٔ مخابرات (TDF) ادارهٔ تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان (اترا) ساخته می‌شوند و قرارداد آن با شرکت‌های مخابراتی اتوما، اتصالات و افغان بیسیم... ص۷

تکمیل یک پروژه زیربنایی برای کاهش خسارات سیلاب ها در پکتیا

وزارت آب و انرژی اعلام کرده است که پروژه ساخت دیوار استنادی در قریه برکوچی‌خیل شهر گردیز، مرکز ولایت پکتیا، با هزینه ۸ میلیون و ۳۵۹ هزار و ۲۹۰ افغانی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است. این وزارت در صفحه ایکس خود نوشته است که با تکمیل این پروژه، ... ص۷

پروان کې د ۴۹ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو رسولو ۱۴ شبکې جوړې شوې

د پروان ځایي چارواکو ویلي، چې د دغه ولایت په یو شمېر ولسوالیو کې د اوبو رسولو ۱۴ شبکې د څه باندې ۴۹ میلیونو افغانیو په لګښت جوړې او د خلکو استفادې ته سپارل شوې دي. د معلوماتو له مخې: دغه پروژې په سیاه‌کرد، شیخ علي، جبل‌السراج... ۷مخ

توزیع کمک‌های غذایی برای دوهزار خانواده نیازمند و بازگشته در بلخ

مسئولان محلی در ولایت بلخ می‌گویند که برای دو هزار خانواده نیازمند و بازگشته در این ولایت کمک‌های غذایی توزیع شده است.

شاه‌زمین هلال، معاون مؤسسه توحید، می‌گوید که این کمک‌ها شامل مواد اولیه خوراکی از جمله آرد، روغن، برنج، لوبیا و شکر بوده که برای خانواده‌های مستحق توزیع شده است.

به گفته او، این بسته‌های کمکی از سوی بنیاد خیریه ملک سلمان فراهم و از طریق این مؤسسه به خانواده‌های نیازمند و بازگشته در بلخ رسانیده شده است. مسئولان تأکید می‌کنند که کمک‌های بشردوستانه می‌تواند... ص۷

د برېښنا په سپما د هېواد راتلونکی روښانه کړئ!

په ژوند کې هـدف ټـاکل

م. حکمت الله «وقار»

الله تعالی انســان بې‌موخــې نه دی پیدا کړی، بلکې د هر انســان د ژوند لپاره یې یو ســپیڅلی مقصد او مســئولیت ټاکلی دی. هغه انســان چې د خپل ژوند هــدف پېژني، خپل وخت، وړتیا، فکر او ځواک پر ســمه لاره لګــوي او د دنیا او آخرت بریا ته رسـېږي، خو هغه څــوک چې بې‌هدفه ژونــد کوي، ډېر وخــت یې په بې‌ځایه کارونو، پښــېمانۍ او ســرګردانۍ کې تېرېږي، ځکه نو د ژوند د بریا لومړنی شــرط د یو روښــانه، ســالم او ارزښتناک هدف ټاکل دي.

هدف هغه روښانه منزل او لوری دی چې انسان د هغه د تراسه کولو لپاره خپل فکر، هڅې او وخت تنظیموي. هدف انســان ته د ژوند مانا ورکوي، د ســتونزو پر وړاندې یې حوصله زیاتوي او د هرې ورځې لپاره ورته د کار کولو انګېزه برابروي.

د مثال په توګه، که یو مســافر د ســفر منزل ونه لري، هره لاره ورته یو شان ښــکاري؛ خو کله چې منزل معلوم وي، نو هر ګام یې په یقین او باور سره اخلي. همداسې د انســان ژوند هم، که بې‌هدفه وي، د بې‌لوړې کښتۍ په څېــر دی چې د بادونو په رحم او کرم پاتې وي.

د اسلام له نظره د ژوند هدف

اســلام انســان ته له ټولو ســتر هدف د الله تعالی عبــادت، د هغه د رضا تراســه کول او د ځمکې اصلاح ښوولې ده. الله تعالی فرمایي:

ژباړه: ما پېریان او انســانان یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي.

نو د مسلمان هر هدف باید د همدې ستر مقصد تر سیوري لاندې وي. که علم زده کوي، کار کوي، تجــارت کوي، کور جوړوي یا ټولنې ته خدمت کوي، بایــد نیت یې د الله تعالی رضا او د خلکو خیر وي.

هغه انســان چې هدف ولري، څو ځانګړنې یې دا کېدای شي:

* خپل وخت بې‌ځایه نه ضایع کوي،
* د ستونزو پر وړاندې نه ماتېږي،
* له ناکامیو څخه درس اخلي،
* د خپلې راتلونکې لپاره روښــانه نقشه لري،
* په خپلو پرېکړو کې ثابت‌قدمه وي،
* او په ټولنه کې اغېزناک شــخصیت ګرځي.

خــو، برعکــس، بې‌هدفه انســان اکثره د نــورو د افکارو، خواهشــاتو او چاپېریــال تر اغېزو لانــدې راځي، وخت ضایع کوي او وروســته له ډېرو افسوسونو سره مخ کېږي.

د مثال په ډول، ښه هدف باید:

* د اسلام له لارښوونو سره سم وي،
* د انسان له وړتیاوو سره مناسب وي،
* ټولنې ته ګټه ورسوي،
* روښانه او عملي وي،
* او د انســان اخلاقي او علمي پرمختګ ته لاره هواره کړي.

خو څنګه کولی شــو چې په ژوند کې ټاکل شوي هدف ته ځان ورسوو؟

پــه څو مختصرو ټکو کې یې لاندې یادونه کوم:

* لومــړی، انســان باید خپل ځــان وپېژني، خپلې وړتیــاوې او کمزورۍ وارزوي.
* دوهــم، باید له الله تعالی څخه مرســته وغواړي؛ ځکــه حقیقي توفیق یوازې د هغه په لاس کې دی.
* درېیــم، باید خپل وخــت په منظم ډول تنظیم کــړي او هره ورځ د خپل هدف لپاره ځانګړی وخت وټاکي.
* څلورم، باید له ناهیلۍ څخه ځان وســاتي؛ ځکه هر لوی بریالی انسان د ســتونزو او ناکامیو له پراوونو تېر شوی دی.
* پنځم، باید له ښــو، بااخلاقو او هدف لرونکو خلکو سره ملګرتیا وکړي؛ ځکه ښــه ملګري انسان د پرمختګ لوري ته بیایي.

په ځانګړي ډول ځوانان په هدف ټاکنه کې څومره مســئولیت لري؟

ځوانــي د ژوند له ټولو ارزښــتمن پــراو دی. که یو ځــوان خپل وخت په علم، عبادت، مهارت، اخلاقــو او خدمت کې ولګوي، نو د خپل ملت او امت لپاره ستره ســرمایه ګرځي، خو که همدا وخت په بې‌ځایه ساعتېریو، بې‌ګټې شــخړو او بې‌هدفه ژوند کې تېر شــي، بیا یې تــاوان جبرانول ډېر ستونزمن وي.

له همدې امله، هر ځوان باید له ځانه وپوښــتي:

«زه ولــې ژوند کــوم؟ د خپل دین، کورنــۍ، ملت او امت لپــاره مې څه مسئولیت دی؟ لس کاله وروسته غواړم څوک واوسم؟»

همدا پوښــتنې انسان د خپل حقیقي هدف موندلو ته رسوي.

پایله

پــه حقیقت کې، د انســان د بریــا او ناکامــۍ ترمنځ له ټولو لــوی توپیر همــدا هدف دی. هدف ژوند ته نظم، ارزښــت او مانا ورکوي او انســان له بې‌لارۍ، ســرګردانۍ او پښــېمانۍ ژغوري. هر څوک چې خپل هدف د اللــه تعالی د رضا، علم، خدمت او نېکو اعمالو پر بنســټ وټاکي، هغه بــه نه یوازې په دنیا کــې عزت ومومي، بلکې د آخــرت تلپاتې بریا به هم تراسه کړي.

نو راځئ چې خپل ژوند د لنډمهالو خواهشــاتو پر ځای د لوړو او سپېڅلو موخو لپاره وقف کړو. وخت د انســان له ټولو ستره شــتمني ده؛ که ضایع شــي، بېرته نه راګرځي. ننني پرېکړه د سبا راتلونکی جوړوي او هغه څوک چــې نن خپل هدف وټاکــي او په اخلاص، صبر او اســتقامت یې تعقیب کړي، ســبا به د بریا پر لوړ مقام ولاړ وي. بریالي خلک د شرایطو انتظار نه باســي؛ دوی هدف ټاکي، توکل کوي، هڅه کوي او خپل برخلیک په پاک نیت، دوامداره کار او نه‌ســتړې کېدونکې ارادې سره جوړوي.

د مالیاتي نظام اسانتیا او د لرې مالیې اخیستل؛ د ملت او نظام د پیاوړې اړیکې بنسټ

قاري بدرالدین فراهي

مالیه د هر نظام د عوایدو له مهمو سرچینو څخه ګڼل کېږي. هر حکومــت د همدې عوایدو په وســیله عامــه خدمتونه وړاندې کــوي، امنیت ســاتي، د زېربنــاوو جوړولو ته وده ورکــوي او د هېــواد د اقتصادي پرمختګ لپــاره پروګرامونه پلي کوي، خو د مالیې راټولولــو بریا یوازې په لوړو مالیاتي نرخونــو پورې نــه ده تړلې، بلکې له ټولــو مهمه خبره دا ده چې مالیاتي سیســتم ساده، شفاف، عادلانه او د خلکو لپاره اسانه وي. کله چې مسئولین د مالیې په برخه کې اسانتیاوې رامنځتــه او پر خلکو مناســبه او کمه مالیــه وضع کړي، نو د ملــت او نظام ترمنــځ د باور، همــکارۍ او ثبات فضا لا پیاوړې کېږي.

لومړی، د مالیاتي سیســتم اسانتیا د خلکو وخت، لګښت او ســتونزې راکموي. که د مالیې ورکولو پروسه اوږده، پېچلې او لــه اداري خنډونو ډکه وي، خلک له ســتونزو ســره مخ کېــږي او ځینې یې د مالیــې ورکولو څخه ډډه کوي، خو که نظام روښــانه قوانین، منظم خدمــات او چټک اداري بهیر ولري، خلک په اسانۍ ســره خپل مالي مکلفیتونه ادا کوي. دا چاره د دولت عواید هم زیاتــوي او د خلکو رضایت هم لوړوي.

دویم، لږه او مناســبه مالیه د اقتصــادي فعالیتونو د پراختیا لامل کېږي. کله چې ســوداګر، صنعتــکاران او پانګوال پوه شــي چې مالیاتي بار درونــد نه دی، نو دوی پــه ډاډه زړه پانګونه کــوي، نوې ســوداګرۍ پیلــوي او د کار فرصتونه رامنځته کوي. د اقتصــادي فعالیتونو د زیاتوالی په پایله کې د دولــت عواید هم لوړوي، ځکه د مالیې ورکوونکو شــمېر ډېرېږي، نه دا چې یوازې د مالیې کچه لوړه شي.

درېیم، د عادلانه مالیاتو پلي کول د ټولنیز عدالت احســاس پیاوړی کوي. خلک هغه مهال له نظام ســره همکاري کوي چې باور ولري مالیه په مســاوي ډول له ټولو اخیستل کېږي او هېڅــوک له قانــون څخه پورته نــه دي. عدالت د خلکو اعتماد زیاتوي او د قانون منلو فرهنګ پیاوړی کوي.

همدارنګــه، د مالیــې په راټولولــو کې شــفافیت ځانګړی اهمیت لري. کــه نظام خلکو ته څرګنــده کړي چې راټولې شوې مالیې د ښــوونځیو، روغتونونو، سړکونو، برېښنا، اوبو او نورو عامه خدمتونو لپاره لګول کېږي، نو خلک به مالیه د یو ملي مســئولیت په توګه وګڼي، نه د یو اضافي بار په توګه. شفافیت د فســاد مخه نیسي او د ملت او حکومت ترمنځ د باور فضا لا ټینګوي.

د لرې مالیې اخیستل د کوچنیو ســوداګرو او نویو متشبثینو لپاره هــم کټور تمامېــږي. کله چې د مالیاتــو بار کم وي، کوچنــي کاروبارونه وده کــوي، د خلکو عایــد لوړېږي او بېکاري راکمېږي. د اقتصاد پیاوړتیا په مســتقیم ډول د ټولنې پر هوســاینې او د دولت پر مالي ثبات مثبتې اغېزې لري.

د ملت او نظام ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا د هر بریالي حکومت اساسي شرط دی. که خلک احساس کړي چې نظام د دوی ستونزې درک کوي، د هغوی اقتصادي وضعیت ته پام کوي او د مالیاتو په برخه کې اسانتیاوې برابروي، نو د نظام ملاتړ به وکــړي. دا ملاتړ یوازې د مالیې په ورکولو نه محدودېږي، بلکې د قانون په رعایت، د ملي شــتمنیو په ساتنه او د هېواد په پرمختګ کې هم ځرګندېږي.

برعکــس، که مالیې ډېرې لوړې، ناعادلانــه او یا د راټولولو پروســه یــې ســتونزمنه وي، د خلکو او نظــام ترمنځ واټن زیاتېــږي. خلــک د بې‌باورۍ احســاس کــوي، اقتصادي فعالیتونه کمزوري کېږي او د مالیې د ټینګــتې کچه لوړېږي. دا حالــت د دولت پر عوایدو او اقتصادي ثبات منفي اغېزې کوي.

پــه پایله کې ویلای شــو چې د مســئول نظام لپــاره یوازې د مالیاتــو راټولــول مهم نــه دي، بلکې د راټولولــو طریقه، عدالت، شفافیت او اســانتیا له دې هم ډېر ارزښت لري. د مالیاتي سیســتم ساده کول، د مناسبې او لرې مالیې ټاکل، د فســاد مخنیوی او د عامه خدمتونو ښــه کول د ملت او نظام ترمنځ د باور، همــکارۍ او ملي یووالي فضا پیاوړې کوي. هر څومره چې خلــک پر خپل نظام باور ولــري او د خپلو مالیاتــو کټه په عملــي ډول ووینې، هماغومــره به د دولت بنســټونه ټینګ، اقتصاد به پیــاوړی او ټولنه به د پرمختګ او سوکالۍ پر لور چټک ګامونه واخلي.

د ژوند لنډ مزل او د بې‌پایه ثوابونو زرین فرصتونه

عبدالعزیز عزام

په دې دنیا کې د انســان عمر ډېر لنډ دی، خو الله ﷻ داسې قانون رالېږلی چې که انسان وربانده په سمه توګه عمل وکړي، نو هم به یې د دنیا ژوند ســم وي او هم به یې آخرت آباد کړی وي. الله ﷻ انســان ته داسې وختونه او فرصتونه ورکړي چې په لږ وخت کې ډېر اجر او ثواب تراسه کولای شي.

د ښلکې په توګه، که څوک د مــال له لارې د صدقې وس ونه لري، نو یو ځل الحمد لله ویل صدقه ده، یو ځل سبحان الله ویل صدقــه ده او همدارنګه هره نېکي صدقه او اجر لري. که څوک جهاد نه شــي کولای، نو د مجاهد د کورنۍ سرپرستي کول او د جهاد وســایل ورته برابرول هم د جهاد په ثواب کې شامل دي.

مطلب دا چې مورږ ته ډېر فرصتونه او چانســونه راکړل شــوي دي، خو له مورږ څخه مطلوب شــی هڅه، اســتقامت او ښه تدبیر دی. دا هغه وخت تراســه کېږي چې انسان خپل ژوند منظــم کړي، د راتلونکي لپاره فکر وکړي، له هر فرصت څخه ګټه واخلي، د ننې کار ســبا ته ونه ځنډوي او د خپل ژوند لپاره روښانه هدف او پلان ولري.

مشــهور پیغمبر حضرت داود (علیه السلام) خپل ژوند داسې تنظیم کړی و چــې یوه ورځ به یې روژه نیوله او بله ورځ به یې نه نیوله او هغه ورځ به یــې د خلکو د ارتیاوو د پوره کولو او د دنیایي چارو د ترســره کولو لپاره ځانګړې کړې وه، نو مورږ هم باید دا ونه وایو چې: «وخت نه لرم»، «دا کار زما له وســه نه دی» یا «دا کار به وروســته وکــرم». مورږ هم وخت لرو او هم مسئولیتونه؛ نو باید په ترسره کولو کې یې ښه وکړو.

هڅ نېک عمل بې‌ارزښــته او کوچنی نه دی. لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

ژباړه: «هڅ نېک عمل ســپک مه ګڼئ، کــه څه هم یوازې دا وي چې له خپل مســلمان ورور ســره په ورین تندي مخامخ شئ.» (مسلم)

په دې حدیث شــریف کې دا خبره روښــانه شوې چې ځینې داســې عملونه شــته چې زمورږ په نظر به ډېــر واړه وي، خو د الله ﷻ په نزد به ډېر لوی ارزښــت ولــري. همدارنګه دا هم ځرګندېږي چې هېڅ نېکي باید کوچنۍ ونه ګڼل شــي، ځکه انسان نه پوهېږي چې د ده د نجات سبب به کوم عمل شي.

اللــه ﷻ فرمایي: ژباړه: «چا چې د ذرې په اندازه نېکي کړې وي، بدله به یې وویني.» (سورة الزلزلة: ۷)

یعنې ته یوازې په اخلاص ســره نېکي کوه، نور ستا هر عمل د الله ﷻ تر ځار لاندې دی او بې‌بدلې به نه پاتې کېږي.

الله ﷻ په بل ځای کې فرمایي:

ژباړه: «چا چې نېک عمل وکړ، ګټه یې د خپل ځان لپاره ده.» (سورة الجاثیة: ۱۵)

په دې آیت کې هر ډول نېک عمل مراد دی، نه یوازې لمونځ، روژه، حج او زکات؛ بلکې لــه لارې ځخه د ضرر لرې کول، له مســلمان سره مرســته کول، د چا ارتیا پوره کول او نور هغه کارونه هم پکې شامل دي چې زمورږ په نظر شاید ډېر کوچني وي.

یو ځل نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل:

«ایا داســې څه در وښــیم چې الله ﷻ پرې ګناهونه بښي او درجې لوړوي؟»

صحابه کرامو وویل: «ولې نه، اې د الله رسوله!»

نبي ﷺ وفرمایل:

«له ســتونزو سره سره بشپړ اودس کول، جومات ته ډېر قدمونه اخیســتل او له یوه لمانځه وروســته د بل لمانځه انتظار کول؛ همدا رباط (ستر عبادت) دی.» (مسلم)

مورږ ډېر وخــت فکر کوو چې یوازې جومات ته تلل او لمونځ کول عبادت دی، حال دا چې په دې حدیث کې بشپړ اودس، د جومات پر لور ګامونه اخیســتل او د لمانځه انتظار کول هم د عبادت برخه بلل شــوي دي. په دې کې دا هم اشاره ده چې که انســان د سختۍ او مشقت باوجود عبادت وکړي، نو هم د عبادت اجر لري او هم د صبر او زحمت ثواب.

په حقیقت کې مورږ وخت لرو، خو ســمه کټــه نه تړې اخلو. ډېر داســې کارونه شــته چې د دنیا تر څنګ د آخرت اجر هم لــري. د ښلکې په توګه: د حلال رزق ګټل عبادت دی، د اولاد ســالمه روزنه عبادت دی او له خلکو سره مرسته او همکاري هم عبادت او اجر لري.

اسلام داســې دین دی چې انسان په ډېر حکمت سره له بدۍ څخه نېکۍ ته رابولي؛ نه یې ســتړی کوي، نه یې مایوسه کوي او نه یې بې‌برخې پرېږدي.

نبي کریم ﷺ فرمایي:

ژباړه: «هر ســهار د انســان د بدن پر هر بند صدقه لازمه ده. هر ځل ســبحان الله، الحمد لله، الله اکبــر او لا إله إلا الله ویل صدقه ده او له دې ټولو څخه د ځانبنــت دوه رکعته لمونځ کفایت کوي.» (مسلم)

یعنې انســان د ذکر په وســیله هم د بدن حق ادا کوي او هم د صدقې اجر تراسه کوي.

نو مورږ او ټول مســلمانان باید له خپل وخت څخه ســالمه او سمه استفاده وکړو، بې‌ځایه کارونو او مجلسونو ته وخت ورنه کړو، هڅ نېک عمل بې‌ارزښته ونه ګڼو او خپل وخت په هغو اعمالو تېر کړو چې د دنیا او آخرت دواړو ګټې پکې نغښــتې وي. همدارنګه باید د عبادتونو او نېکو اعمالو په ترســره کولو کې نه ســتړي کېږو او نه سســتي وکړو. که خدای مه کړه کوم نېک عمل ســپک وګڼو یا یې په سمه توګه ترســره نه کړو، نو له لویو تاوانونو او ســختو وعیدونو ســره به مخ شو او له ډېرو خیرونو به بې‌برخې پاتې شو.

ایا غزه هېره شوې ځمکه ده؟

حبیب الرحمن رحیمي

غزه هغه ځای چې نوم یې د نړۍ هر وکړي اورېدلی دی. چېرې چې د بشریت دښمن داسې ظلم او کړاو پر مظلومو فلسطینیانو تجربه کړ چې په معاصــر تاریخ کې یې بېلګه نه لیدل کېږي. هو هلته تر دوو لکو تنو پورې خلک شهیدان او په میلیونونو نور زخمیان او معلول شــول، چېرې چې یو لوی انساني تمدن تر خاورو لاندې شو.

غزه د هغه مســلمان ولس د اسلامي امت د تاریخي فلسطین یوه برخه ده چې په لرغونو وختونو کې ورته د شام کلیمه کارول شوې ده، ځکه تاریخي شام د کورنیو او بهرنیو لاملونو له مخې چېرې چې د مسلمانانو لومړۍ قبله شتون لري ټوټه ټوټه شوی دی چې په لویه کې یې د مســلمانانو دښــمنانو ته زمینه برابره کړې ده، چې ورو ورو دا مبارکه ځمکه چې پیغمبرانو (ع) ژوند په کې کړی دی د سرسختو کفارو په ولکه کې پرېوزي .

په داسې حال کې چې د نړۍ مسلمانانو ته د غرناطې بې ننګي، بــې پروایي او غفلت بس و، هغه مورږ ته یو درس دی چې باید ورته پېښې په عالم اسلام کې رامنځته نه شي، چېرې چې دوی د مســلمانانو یو لوی مدنیت غیر مسلمو ته پرېښود، که چېرته نړیوالې سیاســي معادلې ته نظر واچول شي، غزه د یوې هېرې شــوې جغرافیې بڼه خپلوي چې ښــکاره ببلکه یې د امریکا او اېران د سولې موافقه ده چې د یاد متن له مخې له لبنان او اېران سره له تړلو ځانګړو ځخه دفاع اېران خپل حق بللی دی، مګر د غزې یادونه او یا یې د ملاتړ په اړه څه نشته، کومه چې دا وخت له هر څه مرســتې او ملاتړ ته ارتیا لري او دا د ټولو مسلمانانو اسلامي او شرعي مسئولیت دی چې غزه یوازې پرې نه ږدي.

د شــواهدو له مخې منځني ختیځ کــې واړه او لوی توپیرونه د دې لامل شــوي دي چې دغه ډول لویو او عمومي مســایلو ته شــا شــي او هر څوک د مذهب او لرکیو په نامــه مبارزه او جګړه پیل کړي، پایله یې له بد بختۍ پرته بل څه کېدای نشــي چې یو له همدغو عواملو د عثماني خلافت ســقوط و. له دې وروسته په منځني ختیځ کې مسلمانان بیا هغه پخواني دور ته ونه ګرځېدل، د اېران او امریکا جګړې ســره د مذهب په نامه اختلاف ژور شــو، یوه له بدو اغېزو یې دا وه چې غزه په سپېره میدان پاتې شي .

د ټولو مســلمانانو د ژغورلو لاره یووالی او وحدت دی، مګر مذهبي او نور فرقونه به مو لا یو له بله لرې او د دښمن منګولو ته ورکړي .

د ښځو آزادي

حسان مجاهد

دکتور سباعي «رحمه الله» وايي: تاريخپوهان په دې باور دي چې د يوناني تمدن د نسکورېدو له سترو لاملونو څخه يو هم دا و چې ښځې يې بې‌حجابه او په پوره زينت کې له نارينه‌وو سره ګډې شوې.

رومیان هم له ورته حالت سره مخ شول؛ په پيل کې ښځه د هغوی په تمدن کې د عزت او پاکلمنۍ څښتنه وه، نو څکه دوی وتوانېدل چې بريالۍ ترلاسه کړي او د خپلې سترې امپراتورۍ بنسټونه ټينګ کړي، خو کله چې ښځه په پوره زينت کې بې‌حجابه شوه او په غونډو، کلبونو او عامه ځايونو کې آزاده وګرځېده؛ نو د نارينه‌وو اخلاق خراب شول، د جګړې څواک يې کمزورۍ شو او تمدن يې په چټکۍ سره سقوط شو.

لوېديځ پوهان هم دې نتيجې ته رسېدلي چې د جنسي بې‌بندوبارۍ له امله تمدنونه د رنګېدو له خطر سره مخ کېږي.

«جېمز رستون» په نيويارک ټايمز ورځپاڼه کې ليکي:

د جنسي بې‌بندوبارۍ خطر ښايي په پايله کې د اټومي انرژۍ له خطر څخه هم ستر وي.

د ۱۹۶۴م کال د اپريل په مياشت کې په سويډن کې ۱۴۰ تنو نامتو ډاکټرانو پاچاه او پارلمان ته يو ليک واستاوه او په کې يې وغوښتل چې د جنسي بې‌بندوبارۍ د مخنيوي لپاره ببرنۍ اقدامات وکړي؛ څکه دا د ملت ژوند او روغتيا ته جدي ګواښ دی. همدارنګه يې د اخلاقي فساد پر ضد د قوانينو جوړولو غوښتنه وکړه.

په ۱۹۶۲م کال کې کينيډي وويل: د امريکا راتلونکی له خطر سره مخ دی؛ څکه زمونږ ځوانان د شهوتونو په خوندونو کې ډوب شوي، د مسئوليت احساس يې له لاسه ورکړی او له هرو اوو ځوانانو څخه شپږ يې د پوځ د استخدام لپاره نه دي مناسب؛ څکه هغه شهوتونه چې دوی پکې ډوب شوي، د دوی بدني او رواني ځواک يې زيانمن کړی دی.(العفة ومنهج الاستعفاف ص ۱۷)

مسلمانو ورونو او خويندو!

زمونږ دښمنان نن پوره هڅه کوي چې په اسلامي ټولنه کې ښځې ته د بېلابېلو تېر اېستونو شعارونو ترنامه لاندې آزادي ورکړي، بې‌حجابۍ ته يې راوبولي او په عامه ځايونو او غونډو کې يې له نارينه‌وو سره ګډون ته وهڅوي. دوی د دې موخې لپاره ستر مالي لګښتونه کوي، شپه او ورځ تبليغات پر مخ وړي او له ټولنيزو شبکو او بېلابېلو رسنيو څخه پراخه کتله اخلي.

دوی ښه پوهېږي چې کله په ټولنه کې د ښځو بې‌بندوباري او بې‌حجابي عامه شي، نو مسلمانان په شهوتونو او دنيوي خوندونو کې ډوبېږي، د ژوند اصلي موخه له پامه غورځوي، د مسئوليت او خدمت احساس له لاسه ورکوي، له خپل دين او وطن سره د ژمنتيا روحيه يې کمزورۍ کېږي او مسلمان ځوان په داسې انسان بدلېږي چې تل د خپلو نفسي غوښتنو د پوره کولو په هڅه کې وي.

کله چې مسلمانان دې حالت ته ورسېږي، نو خپل قوت، يووالی او ځواکمن دولتونه په ډېره اسانی له لاسه ورکوي او د اسلام دښمنانو تــه دا فرصت په لاس ورځي چې په اســلامي هېوادونو کې خپلې موخې او اهداف په اسانی سره تر لاسه کړي.

فکري خپلواکي؛ د ملتونو د عزت او پرمختګ راز

اسدالله مسلم

د بشـري تاريخ په اوږدو کې هغه ملتونه تل د عزت، سـيادت او پرمختګ لورې پورې ته رسـېدلي چـې لومړی يې خپل فکر ازاد کړی، بيا يـې خپله خاوره آباده کړې ده، څکه د ملتونو رښـتينی ځواک يوازې په پوځي وسايلو، اقتصادي سرچينو، طبيعي زېرمو او يا هم د نفوسـو په ډېروالي کې نه دی نغښـتی، بلکې د هغوی د فکر په خپلواکی، د پرېکړو په اسـتقلال او د خپل برخليک په شـعوري ټاکنه کې پروت دی. هغه ولـس چې د بل پر ذهن فکر کوي، د بل پـه ژبه خبرې کوي، د بل دين او کلتورخوښـوي او د بل په خوښـه پرېکړې کوي، که هر څومـره ظاهري امکانات هـم ولري، د خپـل راتلونکي واکمن نه شـي پاتـې کېدای. له همدې امله فکـري خپلواکي د هر ملت د خپلواکۍ هغه نه ليدل کېدونکي سـتنه ده چې د دولتونو بقا، د ټولنو ثبات او د تمدنونو راتلونکی پرې ولاړ وي.

ننني نړۍ يـوازې د جغرافيو د نيولو نړۍ نـه ده، بلکې د ذهنونو د تسـخير نړۍ ده. که پخوا به يرغلګـرو د توپ، ټانک او باروتو په زور هېوادونه نيول، نن د رسـنيو، تبليغاتـو، معلوماتو، ټولنيزو شبکو او فکري روايتونو له لارې د ملتونو فکرونه تر خپلې اغېزې لاندې راولي، څکه د معاصر سياسـت او نړيوالو سيالیو يو مهم اصل دا دی چې هر څوک د خلکـو ذهنونه خپل کړي، د هغوی راتلونکی به هم تر ډېـره بريده په خپل واک کې ولري. له همدې امله د فکـري خپلواکۍ سـاتنه د هر ملت لپاره د سـرحدونو د ساتنې په اندازه ارزښت لري.

فکـري خپلواکـي په دې مانا نـه ده چې يو ملـت دې د نړۍ له پرمختګونـو، علمي تجربـو او نوې ټکنالـوژۍ څخه ځان لرې وسـاتي؛ بلکې اصلي مفهوم يې دا دی چې هـر نوی فکر، هره نظريـه او هره تجربه د خپل دين، ملي ارزښـتونو، عقل او واقعي اړتياوو په رنا کې وارزول شـي. هوښـيار ملتونه له نورو زده کړه کـوي، خو خپل شـخصيت نه بايلي؛ له تجربـو ګټه اخلي، خو خپل هويـت نه پلوري؛ د علـم دروازې پرانيزي، خـو د تقليد کړکـۍ نه خلاصوي. همدې توازن هغوی د پرمختګ لورې پورې ته رسولي دي.

د افغانستان تاريخ هم د همدې حقيقت ژوندۍ بېلګه ده. هر هغه وخت چې افغانانو خپل تصميمونه د خپل ديني باور، ملي شعور او ګډو ګټو پر بنسـټ نيولي، خپل عزت، خپلواکي او هويت يې خوندي سـاتلی دی؛ خو هر ځل چې د پرديو سياسي، فکري او فرهنګـي اغېزو زمونږ د خلکو ترمنـځ بېلتون، بې باوري او تفرقه رامنځته کړې، هېواد له اوږدو کړاوونو، ناخوالو او وروسـته پاتې کېدو سـره مخ شـوی دی. له همدې امله د افغانستان د روښانه راتلونکـي لپاره يوازې اقتصادي پروژې او عمراني کارونه بسـنه نه کوي، بلکې له هر څه وړاندې د سـالم فکر، اسلامي باورونو، ملي شعور او فکري خپلواکۍ پياوړې اړينه ده.

فکري خپلواکي د علم له رنا پرته نه شـي پياوړې کېدای. ناپوهي تـل د پرديو د نفوذ لپـاره لاره هواروي، خو علم د انسـان ذهن روښانوي، د حقيقت او دروغو ترمنځ د توپير وړتيا پياوړې کوي او د سمې پرېکړې جرئت ورکوي. هغه انسان چې مطالعه کوي، څېړنه کوي، د خپل ديني او ټولنيز تاريخ تجربې لولي او هره خبره په دليل او برهان ارزوي، هېڅکله د احساسـاتو، اوازو او تبليغاتو اسـير نه کړځي. لـه همدې امله کتاب، مدرسـه، ښـوونځی، دارالعلوم، پوهنتون او د علم هر مرکز د فکري خپلواکۍ د سـاتنې لومړنی سنګر ګڼل کېږي.

همدارنګـه، فکـري خپلواکـي يـوازې د پوهانـو او ليکوالانو مسـئوليت نه دی، بلکـې د ټولنـې د هر وګړي ګډ مسـئوليت دی. مور او پلار چې خپل اولادونه د سـالم فکر، رښـتينولۍ او مسـئوليت احساس ته روزي، ښوونکی چې شاګرد ته د پوښتنې، استدلال او حقيقت موندنې جرئت ورکوي، ليکوال چې د قلم له لارې د ټولنې شعور راويښـوي او ځوان چې د ټولنيزو رسنيو هر پيغام له تحقيق او تأمل وروسـته مني؛ دا ټول د فکري خپلواکۍ د پياوړتيا په ستره مبارزه کې خپله ونده ادا کوي.

نن سـبا د معلوماتو چټک جريان د انسان لپاره هم فرصت دی او هـم آزموينه. هره ورځ زرګونه خبرونـه، تحليلونه، وېډيوګانې او نظريې د خلکو تر غوږونو او سـترګو رسېږي. که انسان د تحليل او ارزونې وړتيا ونه لري، د حقيقت او تبليغ ترمنځ کرښه ورته له منځه ځي. له همدې امله معاصر انسـان له هر وخته ډېر فکري بصيرت، ژورې مطالعې او قوي اسـتدلال ته اړتيا لري، ځو د هر غږ تر شـا نغښـتې موخې وپېژني او د خپلې ټولنې، خپل دين او خپل هېواد د خير او زيان ترمنځ سـم قضاوت وکړای شي.

د فکري خپلواکۍ له ټولو سـتر دښمن رېوند تقليد دی. تقليد هغه مهال خطرناک کېږي چې انسـان د دليـل، تحقيق او بصيرت پر ځای يوازې د نورو د خوښـې، تبليغ او احساسـاتو تابع شي. په داسـې حالت کې نه يوازې د فرد د فکر ځواک کمزوری کېږي، بلکې د ټولنې د نوښت، اختراع او پرمختګ دروازې هم ورو ورو ترل کېږي. ژوندۍ ټولنې پوښـتنه کوي، څېرنه کوي، اسـتدلال کـوي او بيا پرېکړه کـوي؛ خو مړې ټولنې د فکـر کولو پر ځای يوازې د نورو خبرې تکراروي.

دا هـم بايد هېر نه کړو چې فکري خپلواکي د انزوا او ځان بسـيا کېلو په معنا نه ده. اسـلام مسـلمانان د علم، حکمت او تجربې ترلاسـه کولو ته هڅولي دي. مسـلمان کولای شي د نړۍ له هر ګوټ څخه ګټـور علم، پرمختللې ټکنالـوژۍ او بريالی تجربې زده کړي، خو د خپل ديـن، کلتور او ملي ګټو په چوکاټ کې يې وکاروي. هغه ونه چې خپلې رينبـې په خپله خـاوره کې ټينګې ولري، د هر باد پر وړاندې درېږي؛ خو چې رينبـې يې کمزورې شـي، د هرې څپې او هر باد ښـکار کرځي. ملتونه هم همداسې دي؛ هر څومره چې د هغوی فکري رينبې ژورې وي، په هماغې اندازه يې راتلونکی خوندي وي.

د افغانسـتان د پرمختګ لپاره له هر څه وړاندې د سالموفکرونو يووالي، د علم درناوي او د ملي مسـئوليت احساس ته اړتيا ده. کـه زمونږ ځوانان يوازې د مصرف کوونکـو پر ځای د فکر، علم او نوښت خاوندان شي، که زمونږ ښوونځي او پوهنتونونه د حفظ تر څنګ د تحليـل او څېړنې روحيه هم وروزي، که رسـنۍ د اختلافونـو پر ځای د ملي شـعور په پياوړتيا کـې خپله ونده ادا کړي او که د قلم خاوندان د تعصب پر ځای د حقيقت او اصلاح غږ پورته کړي، نو د لا نور باثباته، پرمختللي او باعزته افغانستان لپاره به قوي بنسټ کېښودل شي.

خوان نسـل په دې برخه کې ځانګړی مسـئوليت لري. همدوی د سـبا رهبـران، متخصصين، ښـوونکي، سـوداګر او د ټولنې لارښـوونکي دي. کـه د دوی ذهنونه د سـالم علم، اسـلامي اخلاقـو، وروږکلوی، مينې او ژور فکر پر بنسـټ وروزل شـي، راتلونکی به روښـانه وي؛ خو که يې وخت په بې ګټې بوختياوو، تقليد او بې بنسـټه تبليغاتو کې ضايع شـي، د ټولنې د پرمختګ کاروان بـه هم ورو شـي. له همدې امله هر خـوان بايد له ځان ځخه دا پوښـتنه وکړي: ايا زه د نورو د فکر تکرارووونکی يم، که د خپل فکر جوړووونکی؟

فکري خپلواکي د اسلامي تاريخ له څېړنې، د کتاب له مطالعې، د علم له لټون او د سـالمو علماوو او متخصصينو له لارښـوونو څخه خـواک اخلي. هغه ملت چـې مطالعه نه کـوي، د نورو روايتونـه به مني؛ هغه ملت چې تحقيق نه کوي، د نورو تحليلونه بـه تکـراروي؛ او هغه ملت چـې خپل فکر نـه روزي، د خپل برخليـک واک به هم ورو ورو له لاسـه ورکړي. څکه د انسـان ذهن د کروندې په څېـر دی؛ که په کې د علم، ايمان او بصيرت تخم ونه کرل شي، د جهل، شـايعاتو او انحراف اغزي به په کې راشنه شي.

نن د افغانسـتان اړتيا يوازې سـړکونو، ودانيو او فابريکو نه نه ده؛ بلکې له دې وړاندې روښـانه ذهنونو، ويښو فکرونو او مسئولانه قلمونو نه اړتيا لري. مادي ودانۍ هغه وخت ارزښـت پيدا کوي چې تر شا يې سـالم فکر موجود وي. که فکر سم وي، امکانات پيدا کېږي؛ خو که فکر کمزوری وي، شـته امکانات هم له منځه ځـي. له همدې امله د ملتونو اصلي پانګه د هغوی انسـاني فکر او علمي شعور دی، نه يوازې طبيعي شتمنی.

پـه پای کې ويلای شـو چې فکري خپلواکـي د ملتونو د عزت، خپلواکـۍ او تلپاتې پرمختـګ بنسـټيز راز دی. هغه ولس چې خپل فکـر د ايمان، علم، عقـل، تجربې او ملي ګټو پر بنسـټ جوړ کړي، نه يې د پرديو تبليغات له لارې باسـي، نه يې هويت لـه منځه ځي او نه يې راتلونکی د نورو د ارادو تابع کېږي. راځئ چې د خپلـو ذهنونو په آبادولو، د مطالعې پـه دودولو، د تحقيق په پياوړتيا او د سـالم فکر په روزلو سره داسې نسل وروزو چې د افغانسـتان راتلونکی د نورو له تقليد نه، بلکې د خپل علم، خپل فکر او خپل نوښـت پـر مټ جوړ کړي، څکـه د ملتونو حقيقي آزادي هغه ورځ بشـپړېږي چې ذهنونه يې هم د جهل، تعصب او فکري غلامۍ له زنځيرونو ازاد شي.

د برېښنا سپما د هر افغان ملي او وجداني مسئوليت دی

فداءالحق

برېښـنا د نننـۍ نړۍ يو له هغـو مهمو نعمتونو څخـه ده، چې د خلکو ورځنۍ ژوند، اقتصادي فعاليتونه، صنعتي توليد، روغتيايي خدمتونه او تعليمي چارې ور پـورې ترلې دي. له همدې امله د برېښنا سپما ته بايد يوازې د لګښت کمولو په سترګه ونه کتل شي، بلکـې د هېواد د راتلونکي د خوندي کولو د يوه مهم اصل په توګه ورته پوره پاملرنه وشي.

افغانسـتان ته چې د برېښـنا يوه لويه برخه د سـيمې له هېوادونو څخـه واردېـږي او د هغې برابـرول د دولت لپاره پـه لوړ مالي لګښـت تمامېږي، له همدې امله په کور او کلي کې برېښـنا بايد په مسئولانه توګه وکارول شي، څکه د هغې سپما د ملي اقتصاد د پياوړتيا او د هېواد د پرمختګ لپاره مهم ارزښت لري.

له همدې امله د برېښـنا سـپما يوازې اقتصادي اړتيا نه، بلکې يو شـرعي او اخلاقي مسئوليت هم دی. هغه ځوک چې له اړتيا پرته څراغونه، برېښـنايي وسـايل او نور تجهيزات فعال پرېږدي، بايد دا احسـاس ولري، چـې د يوه الهي نعمت او د عامه شـتمنۍ په وړاندې دروند مسئوليت لري.

لـه بده مرغه، زمونږ په ټولنه کې لا هم د برېښـنا د سـپما فرهنګ په هغې اندازه نه دی پياوړی شـوی، چې د هېواد اوسـنيو اړتياوو ته خـواب ووايي. په ډېرو کورونو، ادارو او سـوداګريزو مرکزونو کې داسې وسايل په سـاعتونو ساعتونو بې‌ګټې چلېږي، چې هېڅ اړتيا ورته نه وي. دغه بې‌پامي که څـه هم په لومړي نظر کوچنۍ ښـکاري، خو کله چې د ټول هېواد په کچه وارزول شي، د انرژۍ د سـترې ضياع، د شـبکې د اضافي فشـار او د مالي لګښتونو د زياتوالي لامل ګرځي.

د سـپما فرهنګ بايد له کورنۍ څخه پيل شي. والدين کولی شي خپلو ماشـومانو ته د برېښنا د سمې استفادې ارزښت وروښيي او هغوی وهڅوي، چې له اړتيا پرته هېڅ برېښـنايي وسـيلې فعالې پرې نه ږدي. کله چې دا احسـاس د ماشومانو په ذهن کې پياوړی شـي، په راتلونکي کې به د انرژۍ د ساتنې مسئول او ژمن وګړي وروزل شي.

رسنۍ، ښـوونيز بنسـټونه، جوماتونه او ټولنيز فعالان هم د عامه پوهـاوي په لوړولو کې مهم رول لري. د برېښـنا د سـپما په اړه دوامـداري تبليغاتـي برنامې، علمـي خبرې او عامـه کمپاينونه کولای شي د خلکو د فکر او چلند په بدلون کې اغېزمن تمام شي او د سپما فرهنګ په ټولنه کې لا پياوړی کړي.

مور وينو چې اسلامي امارت په ډېرو کمو امکاناتو د انرژۍ برخه کې د کورنيو سـرچينو د پراختيـا، له اوبو، لمـر او نورو طبيعي ظرفيتونـو د اغېزمنې اسـتفادې او د انرژۍ د ځان بسـاينې لپاره هڅې روانې سـاتلې دي، خو د دغو ملـي پروګرامونو بريالیتوب يـوازې د دولتي اقداماتو پر مـټ نه تضمينېـږي، بلکې د ولس همکاري، د سـپما فرهنګ او د عامه شـتمنيو سـاتنه يې اساسي شرطونه دي.

که په نړيواله کچه فکر وشـي، نن د وخت غوښتنه همدا ده، چې برېښـنا يوازې د مصرفېدونکـي خدمت په توګه ونه ګڼل شـي، بلکې د ملي امانت په سترګه ورته وکتل شي. د دې امانت ساتنه د دولت او ولس ګډ مسئوليت دی. که هر افغان په خپل کور، اداره، جومات، ښـوونځي او کاري ځای کې د برېښـنا د سـم مصرف اصول مراعات کړي، نه يوازې به د هېواد مالي بار کم شي، بلکې د راتلونکو نسـلونو لپاره به د مسـئوليت، نظم او ملي احساس يو روښانه ميراث هم پرېږدي. د ملتونو سـتر بدلونونه تل له همدغو کوچنيو خو مسـئولانه کړنو څخه پيلېږي او د برېښـنا سپما هم د هماغه بدلون يوه روښانه بېلګه ده.

د حسد اسباب او لاملونه

مولوي نورالحق مظهري

د حسـد لپاره ډېر لاملونه شـته چې مورږ يې د ځينو په بيان بسنه کوو:

۱- د بندګانو تر منځ د الله تعالی په تقسيم خوابدي او نه قناعت؛ داسې ويل شوي دي چې حسد کوونکی د نعمت دښمن دی او د الله تعالی پر تقدير په قهر دی.

۲- د ګټو اسبابو په خاطر له محسود څخه د حسد کوونکي کرکه او غضب چې هر وخت حسـد ورځخه پيدا کېږي او د دې سبب جوړېـږي چې يو کس دې د بل لپاره د خير خواهی غوښـتونکی نه وي.

۳- تکبر او ځان خوښـونه، کوم ځوک چې تکبر کوي او پر ځان مغرور وي هرومرو حسـد ورځخه کېږي، ځکـه چې دی خپل ځان له نورو انسانانو د نعمتونو ښه مستحق ګڼي.

۴- نفسـي خباثت او چټلـي؛ د ځينو خلکو نفـس پاک نه وي، بلکـې خباثت او چټلي لري، ځکه نو د هېچا لپاره خير نه غواړي او چې له کوم چا سـره د الله تعالی نعمت ووينې حسـد ورسره کوي.

۵- پر حسـد کوونکي د محسـود لوړوالی؛ ځيني خلک داسي عـادت لري چې کله يو ځوک په علم، مال، ادب او نورو شـيانو کې له ځانه لوړ وينې دسـتي حسد ورسـره کوي او په دې خاطر بخالت کـوي چې ولي الله تعالی دغه انسـان ته داسـي کمال ورکړی دی؟

۶- د مشـرتوب او رياسـت محبت؛ ځيني خلک له مشرتوب او رياسـت سـره ډېر محبت لري چې له امله يې له ټولو هغو کسانو سره حسـد کوي چې د ده په فکر مزاحمت ورسره کوي او يا هم رياست ته د ده د رسېدلو مخې ته ممکن يو وخت خنډ جوړ شي، علمـاوو د دې لپاره مثال د عبدالله بن ابي بن سـلول ورکړی چې غوښتل يې د مدينې منورې رياست ته ځان ورسوي، خو کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی، د ده د رياست مخه ونيول شـوه، نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې حسد وکړ.

۷- پـه کارونو کې وړانـدې تک؛ ځيني خلـک د دې لپاره چې په خپله رشـته او ځانګه کې له نورو مخکې شـي حسـد کوي. له همـدې امله مورږ وينو چې تاجر له تاجر سـره حسـد کوي، کروندګر له کروندګر سـره حسـد کوي، عالم له عالم سره حسد کوي، ډاکټر له ډاکټر سـره حسـد کوي او دا ډېر لږ پېښېږي چې عالم دې له ډاکټر سـره حسد وکړي او انجنير دې له کروندګر سره حسد وکړي.

۸- د مقاصدو د له منځه تللو وېره؛ کله چې يو ځوک په يو شـي باندې مشـهور وي او يا پـه ټولنه کې نفوذ ولري، که بل داسـې ځوک پيدا شـي چې له ده سره ممکن سيالي وکړي او شهرت يې له خطر سره مخ شي، نو دی حسد ورسره کوي او د دې آرزو لري چې کاشـکې دا کس نه وای پيدا شـوی او کاشکې له دې ځای ځخه ورک شي.

۹- تبعيـض او توپير؛ ځيني وختونه حسـد له دې ځخه هم پيدا کېږي چې يو مشـر لکه پلار يا لکه په دنيوي کارونو کې مشـر د اولادونـو او تر خپل لاس لاندې کسـانو تر منـځ توپير وکړي او ځينو ته پـر ځينو نورو ترجيح ورکړي، که پـلار خپل يو زوی له نورو زامنو ډېر وغواړي، معلومه خبره ده چې له دغه زوی سـره به د نورو زامنو حسد پيدا کېږي، که قوماندان خپل يو عسکر له نورو ډېر وغواړي، معلومه خبره ده چې له دغه عسـکر سـره به د نورو عسکرو حسد پيدا کېږي او دې ته ورته نور مثالونه.

۱۰- خپل ځان په خپله د خلکو حسـد تـه اچول؛ ځيني وختونه چې کله انسان پر ځان د الله تعالی د نعمتونو په اظهار کې مبالغه وکړي او په هغو کې ځان مشـهور کړي نور خلک ورسـره حسد کوي لکـه يو ځوک چې په علـم يا مال کې ځان مشـهور کړي هرومرو د نورو خلکو ورته پام کېږي او حسـد ورسره کوي. (داء الحسد وأثره على طلبة العلم:۱۲)

سردار محمد داوود ولې کودتا وکړه؟

محمدعلي غزال

د پاچاه محمد ظاهر شاه پر مهال په کران هېواد کې امن او امان و، د هر وګړي ژوند خوندي او محفوظ و، هېڅا هم د وېرې او ډار احساس نه کاوه؛ ولې یو شمېر کسانو ان د امیر حبیب الله خان له مهاله د مشروطه غورځنګ بابولالې غړولې او د دیموکراتیکو پروګرامونو او قوانینو خبرې یې کولې، نو هماغه مشروطه غوښتونکو له پاچاه [ظاهرشاه] وغوښتل چې حکومت او سلطنت سره جلا کړه، ته سلطنت کوه او د ولس استازي دې حکومت کوي د شاهي (سلطنتي) کورنۍ غړي دې په حکومتي چارو کې لاسوهنه نه کوي او په دولتي ادارو کې دې برخه نه اخلي.

نه پوهېږم چې پاچاه د هغوی خبره ولې ومنله ، خو کله چې هغه واکمن کېده، نو عمر یې ایله ۱۹ کاله و ، د پاچاهي په چارو کې یې ډېره تجربه نه درلوده، اما ته یې سردار محمد هاشم خان کابینه جوړه کړه او ده د صدراعظمۍ چارې په لاس کې واخیستلې، د نوموړي له استعفی وروسته د هغه ورور سردار شاه محمود خان صدراعظم شو او له هغه وروسته د پاچاه د تره سردار محمد عزیز خان زوی سردار محمد داود خان د صدارت پر کارونو مأمور شو، هغه کابینه جوړه کړه، د ناپېلتوب سیاست یې غوره کړ او د هېواد د سمسورتیا لپاره یې په ۱۹۵۶م کال لومړی پنځه کلن پلان ترتیب کړ او په ۱۹۶۱م کال یې دوهم پنځه کلن پلان جوړ کړ او په دې اساس یې د هېواد د هوساینې او سوکالۍ لپاره ډېر کارونه وکړل. د نغلو، ماهیپر، درونتې او مزارشریف د برېښنا بندونه یې جوړ کړل. همداشان د نفتو او ګازو استخراج یې په شمال کې پیل کړ، د ډېرو سکاره په پوره اندازه تولید شول ، په مزار شریف کې د سړې فابریکې تولیدات زر (۱۰۰۰) تنو ته ورسېدل او نور ډېر پرمختګونه وشول.

سردار محمد داود خان د ننګرهار پروژې ته زیات پام وکړ. د هغه دوهم اقتصادي پلان د وخت د کمښت او ځینو نورو مشکلاتو له امله عملي نه شو. او ده هم د صدارت له څوکۍ په ۱۹۶۳م کال استعفی ورکړه.

د دیموکراسي پلویانو د نوي اساسي قانون د جوړولو هڅې پیل کړې چې ترتیب او نافذ شو او په کې فیصله وشوه چې شاهي کورنۍ په حکومت او سیاسي ګوندونو کې برخه نه شي اخیستلی. د نوي اساسي قانون له مخې د دیموکراسۍ په لسیزه کې پنځه صدراعظمان هر یو ډاکټر محمد یوسف، محمد هاشم میوندوال، نور احمد اعتمادي، ډاکټر عبدالظاهر او محمد موسی شفیق د صدارت پر څوکۍ وځلېدل، خو د دیموکراسي پلویانو چې کومه هیله او طمع لرله هغسې کار یې ونه کړ (د صلیبي اشغال پر مهال دیموکراسي چې څومره شرمنده وه) د دیموکراسي لسیزه هم هغومره رسوا او شرمنده وه او دا ځکه چې د قرآنکریم ، حدیثو او فقهې په شتون کې د غربي او شرقي قوانینو د پلي کولو ارتیا نه شته . الله جل جلاله د مائده سورت په(۴۴،۴۵،۴۷،)ایتونو کې هغه خلک کافران، ظالمان او فاسقان بللي چې د الهي حکم خلاف فیصله کوي.

د دیموکراسۍ د لسیزې له پیل سره سردار محمد داود خان په کور کېناست، د صدراعظمانو نداره یې کوله، د هغوی هر یو له یو شمېر محدودو کسانو کابینه جوړوله، له ناکامۍ سره د هغه (صدراعظم) دوره له وخته مخکې ختمېدله. بله خوا په نوي اساسي قانون کې د سیاسي ګوندونو د جوړښت هم ویل شوي و، پاچاه لا قانون نه و توشېح کړی، خو سیاسي احزابو ظهور وکړ، رامنځ ته شول او فعالیتونه یې پیل کړل چې له ټولو ډېر تېز یې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند (خلق او پرچم) وو هغه دومره سپین سترګي وو؛ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه به یې هم ناروا الفاظ کارول او پر لینن یې درود ووایه، دا کارونه د مسلمانو هېوادوالو د کرکې او نفرت لامل شول.

سردار محمد داود خان هم خوشې نه و ناست، کوښښ یې کاوه چې د هېواد واکي په لاس کې واخلي، خو د ملت لپاره کار وکړي، نو هماغه و چې په سري فعالیتونو یې لاس پورې کړی و، په ملکي او نظامي ادارو کې یې ډېر پلویان لرل، ځکه چې نوموړي د صدارت په څوکۍ ډېر غوره خدمتونه ترسره کړي وو.

د دیموکراسۍ پلویانو د غوره نتائجو هیله لرله، خو هسې ونه شول ، د یو بدلون زمینه مساعده شوه، پاچاه دعلاج لپاره بهر ته تللی و، نو سردار محمد داود خان هم د ۱۳۵۲هـ ش کال د سرطان په [۲۶مه] په سپینه کودتا لاس پورې کړ، شاهي نظام یې را وپرځاوه او جمهوریت یې اعلان کړ. کابینه اعلان او د څو څوکیو مسئولیت یې واخیست چې د هغو چارې یې هم له جمهوري ریاست سره سمبالولې، د ده کابینه کې د خلق دیموکراتیک ګوند کلیدي افراد هم موجود وو، لکه: محمدخان جلالر او نور. پاچاه ظاهرشاه محافظه کار شخص و، اما داوود خان د قاطع دریځ خاوند و، ځکه خو نه د شوروي اتحاد خوښ و او نه د امریکا ښه ایسېده او په خپله هغه هم له دواړو بېزاره و، کله چې د اسلامي هېوادونو په سفر ووت جلالر یې هم له ځان سره بوته، نو هغه د ده د هر ساعت راپور [KGB] ته ورکاوه او کریملین یې د ده خلاف پرساوه. سردار محمدداوودخان د هېواد دسمسورتیا او پرمختګ لپاره خورا غوره پرمختللي پلانونه لرل، خو له بده مرغه، چې د شوروی اتحاد په مرسته افغاني ملحدو کمونستانو د ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور په (۷ مه) خونړۍ کودتا وکړه. سردار محمد داوودخان د هغه ورور سردار محمد نعیم خان او د دواړو د کورنیو واړه اوغټان یې په ډېره بېدردۍ شهیدان کړل.

د غویانو[کمونستانو] له کودتا وروسته کران هېواد په غمیزه اخته شو، چې تر اوسه لا په ځینو بحرانونو کې ښکېل دی.

سردار محمد داود خان د کران هېواد د پرمختګ، سوکالۍ او هوساینې لپاره سلطنت په جمهوریت واړاوه؛ خو کمونستانو په اوږده بحران کې ګیر کړ.

په مطالعه کې د پردې فکر له اغېزو څخه ځان ساتل

صابر جان محصل

د بشري تمدن د پرمختګ تاریخ ښیي چې ټولنې د علم، کتاب او مطالعې پر مټ د ناپوهۍ له تیارو څخه د پوهې او تمدن رڼا ته رسېدلې دي. کتاب د علم د لېږد، د تجربو د خوندي کولو او د افکارو د خپرولو له ټولو پیاوړې وسیله ده. له همدې امله د نړۍ هر دین، تمدن، فکري مکتب او سیاسي جریان هڅه کړې چې خپل ارزښتونه او نظریات د کتابونو له لارې د نړۍ ملتونو او راتلونکو نسلونو ته ولېږدوي. دا چې اکاډمیک چاپېریال پر مختلفو افکارو پوښل شوی، نو پکار ده چې د مطالعې موخه هم باید یوازې د معلوماتو راټولول نه وي، بلکې د فکر روزنه، د حقیقت لټون او د سم او ناسم ترمنځ د توپیر مقصود وي. که مطالعه له تحلیل، نقد او ارزونې پرته ترسره شي، نو انسان د پوهې پر ځای د تقلید اسیر کړځېدلی شي. له همدې امله انتقادي مطالعه نه یوازې یو علمي مهارت دی، بلکې د فکري خپلواکۍ او ذهني بلوغ بنسټ هم ګڼل کېږي. کتاب د علم، پوهې او فکري ودې مرجع ده. کتاب لوستل د انسان پر مخ د پوهې دروازې پرانیزي، د فکر افقونه پراخوي او د فردي او ټولنیز ژوند په سمون او پرمختګ کې مهم رول لري، خو دا دروازې یوازې هغه وخت رښتیني رڼا خپروي چې لوستونکی کتاب په انتقادي او تحلیلي نظر ولولي، نه دا چې هر څه یې بې له ارزونې ومني. د نړۍ هر فکري، سیاسي او فرهنګي مکتب هڅه کوي چې خپل نظریات او ارزښتونه له ببلابېلو لارو خلکو ته ورسوي او کتاب د دې موخې لپاره له ټولو اغېزناکه وسیله ګڼل کېږي. له همدې امله په کتابخانو او بازارونو کې زرګونه سیاسي، فلسفي، فکري، تاریخي او فرهنګي کتابونه موندل کېږي چې له ببلابېلو ژبو ژباړل شوي او د لوستونکو لاسرسي ته وړاندې شوي دي.

که ځوک دا ګومان وکړي چې د هر کتاب هره خبره او د هر لیکوال هر نظر بې له استثنا سم او د منلو وړ دی، نو په حقیقت کې هغه ځان تر فکري رکود او ذهني اغېزې لاندې راولي. البته د شریعت د قطعي نصوصو، د دین د عقایدو او هغو فقهي او اجتهادي اصولو او قواعدو په اړه چې د امت د معتبرو علماوو تر اجماع، استقرار او منل شویو علمي بنسټونو لاندې راغلي وي، حکم جلا دی؛ ځکه د دغو بنسټونو اعتبار د اشخاصو د نظریاتو محصول نه، بلکې د شرعي دلایلو پر بنسټ ولاړ دی. له دې پرته، په نورو بشري افکارو، نظریو او لیکنو کې هېڅ لیکوال له تېروتنې خوندي نه دی او هېڅ کتاب د حقیقت بشپړ استازیتوب نه شي کولای. په داسي وضعیت کې پکار ده چې مطالعه په انتقادي نظر ترسره شي. انتقادي مطالعه دا معنا لري چې لوستونکی د لیکوال له نظریاتو سره یوازې د منلو اړیکه ونه لري، بلکې پوښتنه، ارزونه او تحلیل هم ورسره وکړي. له ځانه وپوښتي: آیا وړاندې شوی دلیل کافي او منطقي دی؟ آیا دا نظر له واقعیت او شواهدو سره سمون لري؟ آیا د همدې موضوع په اړه بل لیدلوری هم شته؟ که شته، کوم یو یې له دلیل او واقعیت سره ډېر نږدې دی؟ له بده مرغه، زمورې د ټولنې ډېر ځوانان کتابونه په ژور فکر نه لولي. دوی د لیکوال هره خبره د حقیقت په توګه منې او د نقد او تحلیل پر ځای تقلید ته مخه کوي. د دې ډول مطالعې پایله دا وې چې لوستونکی د پوهې پر ځای د نورو د افکارو ناقل ګرځي او خپله فکري خپلواکي له لاسه ورکوي.

رښتیني لوستونکی هغه دی چې له کتاب سره فکري اړیکه ټینګوي؛ د لیکوال له نظرونو سره بحث کوي، د ارتیا په صورت کې اختلاف ورسره څرګندوي، استدلالونه یې ارزوي او په پای کې خپله خپلواکه او مستنده پایله ترې اخلي. همدا انتقادي فکر انسان له عادي لوستونکي څخه پر یو بېدار، باخبره او فکري خپلواک شخصیت بدلوي. زما شخصي لید دا دی چې د ارتیا په صورت کې دې د هر فکر، هر مکتب او هرې نظریې کتابونه ولوستل شي، ترڅو انسان له ببلابېلو افکارو، نظریاتو او لیدلوروسره اشنا شي، خو د منلو یا ردولو پرېکړه باید د عقل، علم، شرعي معیارونو او کره استدلال پر بنسټ وشي، نه د احساس، تعصب، شهرت او یا د لیکوال د نوم له امله، ځکه رښتینې مطالعه هغه ده چې د انسان پوهه پراخه او د تحلیل ځواک یې پیاوړی کړي او فکري خپلواکي یې خوندي وساتي، نه دا چې د تقلید په زنځیرونو کې یې راکیر کړي. اسلام د علم او مطالعې دین دی. د وحې لومړنی پیغام (اقْرَأْ) (ولوله) و، چې دا د پوهې، تفکر او شعورې ژوند ارزښت څرګندوي، خو د اسلام له نظره لوستل یوازې د الفاظو لوستل نه دي؛ بلکې د حقیقت لټون، تدبر، تعقل او د سم او ناسم ترمنځ د توپیر کولو وړتیا هم ده. له همدې امله، هر کتاب باید د عقل، شرعي معیارونو او علمي نقد په تله کې وتلل شي. د شریعت له قطعي نصوصو او د دین له ثابتو اصولو پرته، د هر انسان نظر او هره فکري نظریه د ارزونې او نقد وړ ده. دا چلند نه یوازې د فکري خپلواکي نښه ده، بلکې انسان د تعصب، تقلید او ذهني انحصار له بند څخه هم ژغوري. نو راځئ چې مطالعه یوازې د معلوماتو د راټولولو وسیله ونه بولو، بلکې د شخصیت جوړونې، د فکر د پخېدو او د حقیقت د موندلو لاره یې وګرځوو، ځکه هغه امت چې کتاب لولي، فکر کوي او د علم او دلیل پر بنسټ پرېکړې کوي، د خپل تمدن، عزت او پرمختګ بنسټونه هم پیاوړي کوي.

افزایش ساعات کاری کتابخانه ها؛ گام موثر در ترویج فرهنگ مطالعه

محمد یعقوب

مطالعه و کتاب خوانی، تغذیه کننده جسم و روان بوده؛ نقش بزرگی در آگاهی عمومی دارند . زیرا اطلاعات درست، عمیق و منابع دقیق را در اختیار مردم قرار میدهد. روحیه پرسشگری و مسئولیت پذیری اجتماعی را پرورش داده، زمینه مشارکت آگاهانه تر شهروندان در مسایل فرهنگی، اجتماعی و اقتصادی را فراهم می سازد. از این رو ترویج فرهنگ کتابخوانی گام اساسی در پیشرفت هر جامعه به شمار می آید. کتابخوانی فواید بی شمار دارد: نخست افزایش اطلاعات؛ خواندن کتاب‌های مختلف به شما کمک می‌کند، تا دنیا را بهتر بشناسید. کاهش استرس؛ غرق شدن در یک داستان خوب، ذهن شما را از نگرانی‌ها دور می‌کند و باعث آرامش می‌شود. بهبود خواب با مطالعه؛ خواندن یک کتاب کاغذی «غیر دیجیتال» قبل از خواب، به بدن شما سیگنال می‌دهد که وقت استراحت است. رشد فردی؛ با مطالعه زندگینامه‌ها و کتاب‌های آموزشی، درس‌های بزرگی را برای حل مشکلات زندگی یاد می‌گیرید. افزایش نوآوری با مطالعه؛ کتاب‌ها با تصویرسازی در ذهن، قدرت تخیل شما را فعالتر می‌کند. تقویت حافظه؛ وقتی کلمات و داستان‌های جدیدی را می‌خوانید، سلول‌های مغز شما فعالتر می‌شوند. این روند، مثل ورزش برای مغز است. همان‌قدر که جسمِ شما برای سالم ماندن به ورزش و تحرک احتیاج دارد، مغز شما هم نیاز دارد که به‌کار گرفته شود، و ورزش کند، تا سالم بماند. انسان بنا بر اقتضای طبیعت انسانی خویش به تقویه پهلوی معنوی خود نیاز بیشتری احساس می کند و می کوشد که به کمک اندیشه وتفکر بر غنای این جنبه بیافزاید؛ و پهلوی کیفی انسانی اش را نیرومند تر و بارور تر، جلوه گر سازد. بخاطر برآورده شدن همین ضرورت و رفع این نیازمندی بود، که انسان مهارت خواندن و نوشتن را پدید آورد و به کمک آن جولانگاه فکری خود را وسعت بخشیده، رنگ هستی داد و بخاطر حفظ ونگهداشت، این محصولات پر ارج را طی اعصار و قرون برای استفاده نسل های آینده قابل دسترس کرده بتواند، به تاسیس کتابخانه اقدام کرد وازاین طریق طرح و ایده های فکری و اندیشه یی خویش را از غارت زمان و تطاول روز گار تا آنجا که مقدور بود مصئون گردانید. فکر تاسیس کتابخانه در کشور قدامت چشمگیری دارد، و این پدیده از سپیده دم جنبش ها و جهش های فرهنگی تا امروز با حیات معنوی فرزندان این سرزمین فرهنگ پرور پیوند بلافصل دارد و سیر تاریخی کتابخانه ها در کشور فراز و نشیب زیادی دیده و از مراحل پرخم و پیچ عبور کرده است. کتابخانه‌های عامه یکی از مراکز معتبر علمی و فرهنگی کشور هستند، که همواره امکانات و دروازه هایش به روی علماء، محققان، محصلان و شاگردان باز بوده است. هر روز صدها نفر برای مطالعه، تحقیق، نگارش و پیشرفت علمی به این مراکز مراجعه می‌کنند. در چند روز پسین مسئولان این نهاد بزرگ« کتابخانه های عامه» معلوماتی، علمی و فرهنگی به دلیل ارایه خدمات بهتر و سهولت بیشتر، در صدد آن شدند تا امور فعالیت خدماتی را وسعت ببخشند. روی این منظور دست به ابتکار شده و خبر خوشایندی را اخبار نمودند. وزارت اطلاعات و فرهنگ اخیراً اعلام کرد که به منظور گسترش خدمات فرهنگی و فراهم‌سازی بسترهای مناسب برای جامعه علمی و پویا، تالارهای کتاب‌خانه‌های عامه از این پس تا ساعت ۱۰ شب به روی علاقه‌مندان، محققان و محصلان باز خواهند بود. پیش از این، درهای این مراکز فرهنگی هر روز تنها تا ساعت ۴ پس از چاشت به روی مراجعین باز بود.

رفیع‌الله صمیم، رئیس کتاب‌خانه‌های عامه، با تأیید این خبر اظهار داشت که این ریاست به عنوان یکی از مراکز معتبر علمی و فرهنگی کشور، همواره نقش کلیدی در حمایت از دانشمندان، پژوهشگران و طلاب علم ایفا کرده است.

رئیس کتاب‌خانه‌های عامه در ادامه افزود که هدف اصلی از اتخاذ این تصمیم، ایجاد فرصت بیشتر برای نسل جوان است، تا بتواند در ساعات شامگاهی نیز در فضای آرام، معیاری و مناسب به فعالیت‌های آموزشی و تحقیقاتی خود ادامه دهند.

وی از تمامی شهروندان، به‌ویژه محصلان و جوانان دعوت کرد، تا با حضور در این مرکز، از منابع غنی کتاب‌خانه‌ای، تالارهای مجهز مطالعه و سایر امکانات علمی و فرهنگی فراهم‌شده بهره‌مند شوند. کتاب‌خواندن را می‌توان به فعالیت مثل غذا خوردن تشبیه کرد. دلایلِ بسیاری وجود دارد، که کتاب‌خواندن را در برنامه هر روز خود قرار دهیم. البته این به آن معنا نیست که همه انسان‌ها باید تمامِ کتاب‌های دنیا را بخوانند. اتفاقاً بهتر است هر فردی کتاب‌هایی را انتخاب کند و مطالعه نماید که دوست دارد. برای این کار می‌توانید خلاصه پشتِ جلد را نگاه کنید، مقدمه یا سخن نویسنده آن را بخوانید. هر نویسنده، زمانی که کتابی را می‌نویسد، همه مردم دنیا را خواننده کتاب خود نمی‌داند. حتماً خواننده های را با ویژگی‌های به‌خصوصی در نظر دارد و شاید شما در آن دسته از خوانندگان نباشید؛ بنابراین کتابی را انتخاب کنید که برای شما نوشته شده باشد. مطمئن باشید که برای تمام عمرتان کتاب‌هایی وجود دارد که بتوانید از خواندن شان لذت ببرید و به یقین می توان گفت که چیز های زیادی از کتاب های مطالعه شده؛ در گنجینه اطلاعاتی تان ذخیره می گردد و در زمان مناسب و نیاز از این بسته ای اطلاعات حفظ شده، بیشترین فواید را در امور زندگی خواهید برد. در انتهای این یادداشت به کمک ارایه دلایل علمی تحریر شده، بیشتر شرح داده و توضیح می‌دهیم که کتاب خواندن باعث باهوشترشدن شده، زمینه رشد فردی و موفقیت را فراهم و بیشتر می سازد.

تأثیر تکنالوژی بر فرهنگ و جامعه

محمد حبیب نصرتی

تکنالوژی در عصر امروز یکی از مهمترین عوامل تغییر در زندگی انسان‌ها به شمار می‌رود. تقریباً هیچ بخشی از زندگی وجود ندارد که از تکنالوژی دور باشد. از آموزش و تحصیل گرفته تا اقتصاد، تجارت، ارتباطات و حتی فرهنگ، همه تحت تأثیر پیشرفت تکنالوژی قرار گرفته‌اند. در افغانستان نیز استفاده از موبایل، انترنیت و شبکه‌های اجتماعی در سال‌های اخیر به شکل چشمگیری افزایش یافته است.

این تغییرات باعث شده است که سبک زندگی مردم نسبت به گذشته بسیار متفاوت شود. ارتباطات سریعتر شده، دسترسی به معلومات آسانتر گردیده و فرصت‌های جدید برای آموزش و کار به وجود آمده است. اما در کنار این پیشرفت‌ها، مشکلات و چالش‌هایی نیز به وجود آمده که بر فرهنگ و روابط اجتماعی تأثیر گذاشته است. در این مقاله تلاش می‌شود تأثیرات مثبت و منفی تکنالوژی بر فرهنگ و جامعه بررسی شود.

۱. تأثیرات مثبت تکنالوژی بر جامعه

یکی از مهمترین تأثیرات مثبت تکنالوژی، آسان شدن ارتباطات میان انسان‌هاست. امروزه افراد می‌توانند در هر لحظه با دوستان و اعضای خانواده خود در هر نقطه دنیا ارتباط برقرار کنند. این موضوع فاصله‌های جغرافیایی را کم کرده و ارتباطات انسانی را سریعتر ساخته است.

در بخش آموزش نیز تکنالوژی نقش بسیار مهمی دارد. دانشجویان پوهنتون‌ها می‌توانند از طریق انترنیت به کتاب‌ها، مقاله‌های علمی و منابع آموزشی مختلف دسترسی پیدا کنند. همچنان کورس‌های آنلاین و سیستم‌های آموزشی دیجیتالی باعث شده‌اند که یادگیری آساتر و گسترده‌تر شود.

از سوی دیگر، تکنالوژی در بخش اقتصاد نیز تأثیر مثبت گذاشته است. بسیاری از کسب‌وکارها به شکل آنلاین فعالیت می‌کنند و فرصت‌های شغلی جدید در زمینه‌های دیجیتال، طراحی، برنامه‌نویسی و بازاریابی انترنیتی به وجود آمده است. این موضوع به رشد اقتصادی جامعه کمک کرده است.

۲. تأثیرات منفی تکنالوژی بر فرهنگ و جامعه

با وجود مزایای زیاد، تکنالوژی مشکلاتی نیز به همراه دارد. یکی از مهمترین مشکلات این است که روابط اجتماعی واقعی میان مردم کاهش یافته است. بسیاری از افراد بیشتر وقت خود را در شبکه‌های اجتماعی سپری می‌کنند و کمتر با خانواده و دوستان خود به صورت حضوری وقت می‌گذرانند. همچنان استفاده بیش از حد از تکنالوژی باعث وابستگی می‌شود. بعضی جوانان ساعت‌های طولانی را در موبایل و انترنیت مصرف می‌کنند که این موضوع بالای درس، کار و صحت روانی شان تأثیر منفی می‌گذارد.از نظر فرهنگی نیز تکنالوژی باعث تغییراتی در ارزش‌ها و عادات سنتی شده است. ورود فرهنگ‌های خارجی از طریق شبکه‌های اجتماعی باعث شده که بعضی از رسوم و رفتارهای محلی کمرنگ شود. این مسئله در جوامع در حال توسعه بیشتر دیده می‌شود.

۳. تحلیل کلی موضوع

تکنالوژی در ذات خود نه خوب است و نه بد. در واقع این طرز استفاده انسان‌هاست که نتیجه آن را تعیین می‌کند. اگر از تکنالوژی به شکل درست، هدفمند و آگاهانه استفاده شود، می‌تواند باعث پیشرفت علمی، اقتصادی و اجتماعی گردد، اما اگر از آن استفاده نادرست صورت گیرد، ممکن است مشکلات جدی در روابط اجتماعی و فرهنگی ایجاد کند. بنابراین مهم است که جامعه، به ویژه جوانان، یاد بگیرند که چگونه از تکنالوژی به شکل درست استفاده کنند و میان زندگی واقعی و زندگی مجازی تعادل برقرار نمایند.

در نتیجه می‌توان گفت که تکنالوژی تأثیر عمیق و گسترده بر فرهنگ و جامعه دارد. این تأثیر هم مثبت است و هم منفی. از یک طرف باعث پیشرفت در آموزش، ارتباطات و اقتصاد شده و از طرف دیگر باعث کاهش روابط اجتماعی و تغییر برخی ارزش‌های فرهنگی گردیده است.

برای استفاده بهتر از تکنالوژی لازم است آگاهی مردم افزایش یابد و استفاده مسئولانه از آن ترویج شود. اگر جامعه بتواند تعادل میان استفاده از تکنالوژی و زندگی واقعی را حفظ کند، می‌تواند از مزایای آن بهره‌مند شود و از آسیب‌های آن جلوگیری نماید.

فرهنگ رانندگی؛ نشانه احترام به جان انسان‌ها

محمد نسیم عمری

نظم و آرامش در جاده‌ها و سرک‌های کشور، تنها با ساختن راه‌های بزرگ و جدید تأمین نمی‌شود، بلکه رعایت اصول رفت‌وآمد و مسئولیت‌پذیری رانندگان و مردم نیز نقش اساسی در تأمین امنیت دارد. امارت اسلامی در بخش‌های مختلف کشور، به‌ویژه در زمینه توسعه و بازسازی سرک‌ها، تلاش‌های قابل توجهی انجام داده است تا مردم بتوانند با سهولت، امنیت و آرامش بیشتر رفت‌وآمد کنند. این سرک‌ها و راه‌های ساخته‌شده زمانی می‌توانند هدف اصلی خود را برآورده سازند که همه شهروندان در استفاده درست از آن‌ها همکاری نمایند.

قوانین رفت‌وآمد و اصول رانندگی برای محدود کردن مردم ساخته نشده‌اند، بلکه برای حفظ جان انسان‌ها، جلوگیری از حادثات و ایجاد نظم در جامعه وضع شده‌اند. هر راننده‌ای که با سرعت مناسب حرکت کند، فاصله قانونی را رعایت نماید، به چراغ‌ها و علایم راهنمایی توجه کند و در محل‌های تعیین‌شده توقف نماید، نه‌تنها از جان خود محافظت می‌کند، بلکه جان دیگران را نیز محفوظ نگهمیدارد.

چراغ‌ها، علایم و نشانه‌های کنار سرک بی‌دلیل نصب نشده‌اند؛ هرکدام برای هدفی مشخص ایجاد شده‌اند. چراغ‌ها برای تنظیم حرکت و توقف وسایط، علایم برای آگاهی دادن به رانندگان و محل‌های مشخص برای توقف و باز کردن مسیرها در نظر گرفته شده‌اند. اگر هر شخص این اصول ساده را رعایت کند، بسیاری از مشکلات ترافیکی و حادثات کاهش خواهد یافت و رفت‌وآمد برای همه آسانتر خواهد شد.

بسیاری از تصادفات نه به دلیل خراب بودن سرک‌ها، بلکه به دلیل بی‌احتیاطی، سرعت غیرضروری، بی‌توجهی به قوانین و رعایت نکردن حق دیگران اتفاق می‌افتد. اگر هر راننده با مسئولیت‌پذیری رانندگی کند و وسیله نقلیه را مطابق اندازه و ظرفیت سرک حرکت دهد، بسیاری از خطرات از بین خواهد رفت. رانندگی تنها مهارت چرخاندن فرمان نیست، بلکه نشانه‌ای از اخلاق، صبر و احترام به جان دیگران است.

گاهی مردم تصور می‌کنند که برای ایجاد نظم حتماً نیاز به حضور همیشگی نیروهای ترافیکی است، اما حقیقت این است که بهترین نظم زمانی به وجود می‌آید که هر فرد خود قانون را رعایت کند. جامعه‌ای که مردم آن به قانون احترام بگذارند، بدون نیاز به نظارت زیاد نیز می‌تواند منظم و آرام باشد. هر راننده باید بداند که رعایت قانون، کمک به خود، خانواده و تمام افراد جامعه است.

امروز که سرک‌های کشور توسعه یافته و زمینه رفت‌وآمد بهتر فراهم شده است، مسئولیت مردم نیز بیشتر می‌شود. استفاده درست از این امکانات، نشانه قدردانی از تلاش‌هاییست که برای آبادانی کشور انجام شده است. اگر مردم در کنار ساخت‌وساز و توسعه، فرهنگ استفاده درست از راه‌ها را نیز تقویت کنند، شهرها و جاده‌های ما امنتر، منظمتر و آرامتر خواهند شد.

پس بر همه رانندگان و شهروندان لازم است که قوانین رفت‌وآمد را رعایت کنند، به چراغ‌ها و علایم راهنمایی توجه داشته باشند، با سرعت مناسب حرکت کنند و از هر رفتاری که سبب خطر و بی‌نظمی می‌شود دوری نمایند. رعایت قانون تنها باعث راحتی یک فرد نمی‌شود، بلکه آرامش و امنیت تمام جامعه را به همراه دارد.وقتی هرکس مسئولیت خود را انجام دهد، هم راننده در آرامش خواهد بود، هم مردم با آسودگی رفت‌وآمد خواهند کرد و هم کشور به سوی نظم و پیشرفت بیشتر حرکت خواهد نمود. نظم در سرک‌ها، نشانه فرهنگ یک ملت و احترام به زندگی انسان‌هاست.

کندهار کې د اسلامي ادب او فرهنګ د پیاوړتیا نوې ټوکېدلې هیلې

احمد خاطِري

اسلامي ادب او فرهنګ هغه وخت ښه خلېږي، چې د وخت حاکم يې پر ارزښت پوره اګاه وي او په عملي دول ژمنتیا ورته ولري. لوی کندهار چې له پېړیو د علم او ادب کور دی، د تاریخ په اوږدو کې يې په خپله غېږه کې زیات مسلمان ادیبان او فرهنګي شخصیتونه روزلي؛ خو داسې وختونه هم راغلي، چې د اسلامي ادب او اصیل فرهنګ کورنیو او بهرنیو دښمنانو په ښکاره دول د دوی ږغ خاموش کړی؛ خو د دوی علمي او ادبي هڅې د تاریخ په پانو کې خوندي او یاد يې لا هم ژوندی دی. له دغو علمي او فرهنګي شخصیتونو څخه یو هم د کندهار ولایت د میوند د تاریخي او ویاړلې ولسوالی اوسېدونکی شهید ابوالفیض مولوي عبدالغفار بریالی دی. دی نه یوازې ستر علمي او روحاني شخصیت و؛ بلکې د خپل وخت د ادب او فرهنګ د اسمان خلاند ستوری هم و. دی «تقبله الله» د مولوي اختر محمد (عبد الله) زوی، د میوند د تاریخي غزا د اتل شهید ملا محمد معشوق لمسی او په ۱۳۱۰ ل کال د کندهار ولایت د دند ولسوالی په کیلان کلي کې زېرېدلی و. په کندهار، پښین او پېښور کې يې تعلیم او تحصیل کړی و. له فراغت وروسته يې د کندهار په خاکریز، پنجوایي او میوند ولسوالیو کې تدریس کړی و. دی «تقبله الله» د نبوي احادیثو شیخ او د جامعیت څښتن و. له ښه قرائت، کتابت، طبابت او طریقت څخه يې خلکو استفادې کولې؛ په فصاحت او کریمه اخلاقو خورا منلی شخصیت و، ده د هېواد له ګوټ ګوټ او همدارنګه له کاوندیوهېوادونو ایران او پاکستان څخه هم شاګردان روزلي دي، خو بالآخره د کمونستانو له خوا په ۱۳۵۸ ل کال له حج څخه د راستنېدو پر مهال د کندهار له هوایي ډګره د کندهار محبس ته یوړل شو او بیا د کابل په پولیګون کې په خورا بې رحمۍ او قساوت سره شهید کړای شو.

د ده نوم د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست نن بیا را ژوندی کړ او د ریاست په انګړ کې نوی جوړ شوی مسجد يې د ده «تقبله الله» په نامه ونوماوه، چې دا کرنه له یوې خوا دیني شعائرو ته د زیات ارزښت ورکولو په معنی ده، چې د اسلامي نظام پوره دینداري ښیي؛ له بلې خوا د اسلامي ادب او فرهنګ د بیا غوړېدو او پیاوړتیا هیلې هم ورسره راتوکېږي. لکه څرنګه چې موجود اسلامي نظام د خپلې اسلامي ټولنې مادي پرمختګ ته په عملي دول ژمنتیا لري، همداسې معنوي پرمختګونو ته يې هم څو چنده زیات ژمن دی، چې یوه بېلګه يې په حکومتي اداره کې د مسجدونو جوړول؛ او بیا د داسې شخصیتونو نومونه پرې اېښودل چې د هغوی پر تاریخ باندې هر مسلمان فخر کوي او د ځوان نسل لپاره د هغوی پر نقش قدم باندې د تللو الهام ورکوي.

د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د مشرتابه کور ودان چې په ریاست کې پر نوي جوړ شوي مسجد يې د شهید مولوي عبدالغفار بریالي «تقبله الله» نوم کېښود او په دې سره يې د کندهار ادبپال ولس ته د خپل فرهنګي شخصیت یاد ور په زړه کړ. مورِ نېکپالي کوو چې کندهار به نور هم د ادب او فرهنګ په برخه کې خلېږي چې دا زمورِ ستر ارمان او هیله ده.

د اسلامي ادب او اصیل فرهنګ د لا ځلېدو په هیله

فرهنگ کار و تلاش از دیدگاه اسلام

رحمت الله رحمانی

کار و تلاش از اساسی ترین عوامل عزت، پیشرفت و سعادت انسان در زندگی فردی و اجتماعی است. هیچ جامعه ای بدون ترویج فرهنگ کار، مسئولیت پذیری و کوشش دوامدار ، به رشد و توسعه دست نخواهد یافت. دین مقدس اسلام به عنوان دین کامل و جامع، کار را تنها وسیله ای برای تأمین نیاز های مادی نمیداند، بلکه آن را عبادت ارزشمند، مسئولیت الهی و راهی برای آبادانی زمین و خدمت به بندگان خدا معرفی می‌کند. از همین رو، قرآنکریم و احادیث پیغمبر اکرم (ص) سرشار از رهنمود های است که مسلمانان را به کار، تلاش، تولید، کسب روزی حلال و دوری از تنبلی و بیکاری دعوت می‌کند. امروزه جوامع اسلامی بیش از هر زمان دیگری به تقویت فرهنگ کار نیاز دارند. گسترش مسئولیت پذیری، وقت شناسی، امانت داری، صداقت، آموزش مهارت ها و وجدان کاری می‌تواند زمینه‌ساز پیشرفت اقتصادی، از بین بردن فقر و محکم سازی بنیان های اجتماعی باشد. از این رو، مطالعه دیدگاه اسلام درباره فرهنگ کار، ضرورت انکارناپذیر است.

کار در لغت به معنای انجام دادن فعالیت برای رسیدن به هدف یا نتیجه ای مشخص است و تلاش، بیانگر کوشش مداوم برای تحقق آن هدف است. در نگاه اسلام، هر فعالیت مشروع و مفید که با نیت پاک و در چارچوب احکام شریعت انجام شود، ارزشمند و شایسته پاداش است. از این رو، دین مقدس اسلام میان عبادت و کار جدایی قائل نشده است؛ بلکه اگر کار با نیت خدمت به خانواده، جامعه و کسب روزی حلال انجام شود، خود نوعی عبادت به شمار می‌آید. دین مقدس اسلام مسلمانان را به آبادانی و شگوفا کردن زمین فراخوانده است. خداوند متعال انسان را جانشین خود در زمین قرار داده و از او خواسته است که با علم، تدبیر و تلاش، زمین را آباد سازد و از نعمت‌های الهی به درستی بهره ببرد. بنا بر این، کار تنها یک ضرورت اقتصادی نیست، بلکه بخشی از رسالت انسان در این جهان است.

قرآنکریم بارها انسان را به کوشش، حرکت و عمل دعوت کرده است. چنانچه خداوند متعال می‌فرماید: ترجمه: و اینکه برای انسان جز حاصل تلاش او نیست (سوره نجم، آیات ۳۹) این آیات بیان می‌کند که موفقیت و بهره‌مندی انسان در گرو تلاش اوست و هیچ‌کس بدون کوشش به کامیابی واقعی دست نمی یابد. خداوند تبارک و تعالی در آیه دیگر قرآنکریم میفرماید: ترجمه: «بگو عمل کنید، که خدا و پیغمبر او و مؤمنان اعمال شما را خواهند دید.» (سوره توبه، آیه ۱۰۵)

این آیه قرآنکریم مسلمانان را به عمل و تلاش فرا می‌خواند و تأکید می‌کند که ارزش انسان در عمل او آشکار می‌شود، نه در ادعا او و نیز خداوند متعال در آیه دیگر قرآنکریم می‌فرماید: ترجمه: او کسیست که زمین را برای شما رام کرد، پس در گوشه و کنار آن راه بروید و از روزی او بخورید و بازگشت همه در قیامت تنها به سوی اوست. (سوره ملک، آیه ۱۵)

این آیه مبارک، حرکت، تلاش و سود گیری مشروع از نعمت های خداوند را از وظایف انسان میداند.

همچنین در منابع معتبر حدیث، احادیث فراوانی وجود دارد که مسلمانان را به کار، تلاش، مسئولیت پذیری و کسب روزی حلال دعوت میکند بطور مثال پیغمبر (ص) میفرماید: دست بالا از دستِ پایین بهتر است(صحیح بخاری و صحیح مسلم) یعنی انسانی که با کار و تلاش زندگی خود را اداره می‌کند و به دیگران کمک میرساند، از کسی که همیشه دست نیاز به سوی دیگران دراز می‌کند، برتر است. و نیز زندگی پیغمبران بهترین الگوی فرهنگ کار است. حضرت آدم علیه‌السلام پس از آمدن به زمین با تلاش زندگی کرد. حضرت نوح علیه‌السلام با دستان خود کشتی ساخت. حضرت داود علیه‌السلام با وجود مقام پیغمبری، از دسترنج خود زندگی می‌کرد و زره میساخت. حضرت موسی علیه‌السلام سال ها چوپانی کرد و پیغمبر اکرم (ص) نیز پیش از بعثت به چوپانی و تجارت مشغول بود. این نمونه‌ها نشان می‌دهد که اسلام هیچگاه کار را با مقام و منزلت انسان نا ساز گار نمیداند؛ بلکه کاری شرافتمندانه را نشانه عزت و کرامت انسان مسلمان معرفی می‌کند.

نخستین اثر کار و تلاش تأمین روزی حلال است. در آمدی که از راه مشروع و با تلاش به دست آید، سبب آرامش خانواده و برکت در زندگی می‌شود. دومین اثر، رشد اقتصادی و کاهش فقر است. هرگاه افراد در جامعه ما با احساس مسئولیت به تولید، کشاورزی، تجارت، آموزش و خدمات بپردازند، زمینه اشتغال، افزایش تولید و رفاه عمومی مردم فراهم می‌شود. تاثیر دیگر کار و تلاش، تقویت شخصیت انسان است. کار روحیه اعتماد به نفس، نظم، صبر، پشتکار و مسئولیت پذیری را در انسان پرورش می‌دهد و او را از تنبلی، وابستگی و نا امیدی دور میکند. فرهنگ کار همچنین موجب استحکام وحدت اجتماعی ما می‌شود. هنگامی که هر شخص وظیفه خود را به درستی انجام دهد، حقوق دیگران بهتر رعایت می‌شود، اعتماد عمومی افزایش پیدا کرده و جامعه در مسیر پیشرفت قرار میگیرد.

دین مقدس اسلام در کنار تشویق به کار، از عواملی که مانع تلاش و پیشرفت می‌شوند نیز برحذر داشته است. مانند تنبلی، تلف کردن وقت، سستی، اسراف، بی برنامه گی، بی‌نظمی، کم کاری، بی تعهدی و انتظار داشتن بیجا از دیگران از جمله این موانع هستند. پیغمبر اکرم (ص) همواره از تنبلی به خداوند پناه میبرد و این دعا را می‌خواند: ترجمه: بارالها از ناتوانی و تنبلی به تو پناه می‌برم. این دعا نشان می‌دهد که تنبلی نه تنها یک ضعف شخصی، بلکه مانعی در مسیر رشد معنوی و اجتماعی انسان است.

نهادینه شدن فرهنگ کار از خانواده آغاز می‌شود. والدین باید فرزندان را از کودکی با مسئولیت پذیری، احترام به وقت، نظم و ارزش تلاش آشنا کند. مکاتب، مدارس و پوهنتون ها نیز باید علاوه بر آموزش علوم، روحیه کار، آموزش مهارت و نوآوری را برای متعلمین و محصلان تقویت کنند. رسانه‌ها نیز رسالت مهم بر عهده دارند. معرفی نشانه های موفق، ترویج فرهنگ تلاش، احترام گذاشتن به کارگران، کشاورزان، تجارت پیشه ها، معلمان و همه خدمتگاران جامعه، باعث می‌شود که مردم دید بهتری نسبت به کار پیدا کند و جوانان به تلاش و اعتماد به توانایی‌های خود بیشتر تشویق شوند.

فرهنگ کار و تلاش از دیدگاه دین مقدس اسلام، یکی از پایه های اساسی عزت شخصی، رفاه اجتماعی و پیشرفت امت اسلامی است. قرآنکریم و سنت پیغمبر اکرم (ص) مسلمانان را به کار، کسب روزی حلال، مسئولیت پذیری و آبادانی زمین دعوت نموده است و تنبلی، بی‌کاری و وابستگی را نهی کرده است. سیرت پیغمبران نیز نشان می‌دهد که کار شرافتمندانه همیشه با ایمان، تقوا و کرامت انسانی همراه بوده است. امروز نیز به هر اندازه که فرهنگ کار، وجدان کاری، امانت داری، نظم و اعتماد در جامعه تقویت شود، زمینه رشد اقتصادی، کاهش فقر، افزایش همدیگر پذیری اجتماعی و پیشرفت کشور بیشتر فراهم خواهد شد. بنابر این، چی خوب است که خانواده ها، مراکز آموزشی، علماء، رسانه ها و همه نهاد های فرهنگی، ترویج فرهنگ کار را از اولویت های خود قرار دهند تا جامعه ای آگاه، خودکفا و برخوردار از عزت و سربلندی شکل گیرد. بدون شک، آینده روشن هر جامعه در گرو ایمان، دانش، همت و تلاش صادقانه فرزندان آن جامعه است.

شعر و ادب

پښتني خورته!

اسد حماس

اسلامي دود دی حجاب، پښتني خوري!
لري نه کړي، پام! نقاب، پښتني خوري
په حجاب کې پته اوسه لکه حوره
پکې ایښی رب ثواب، پښتني خوري
د ملالې او ناهید پر پله قدم ږده
ورځ راتلونکې د حساب، پښتني خوري
ته عزت د دې کاله يې، دا ویلي
پرکنو دي ستا په باب، پښتني خوري
فرمایي «وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ»
تاسؤ ته د خدای کتاب، پښتني خوري
د نقوا پر رناکانو «اسد» وایم
کړه رنګین د زړه محراب، پښتني خوري

غزل

م خالد تسل

وختونو کې پراته دي قېمتونه د فکرونو
لوړېږي ورځ تر بلې نوښتونه د فکرونو

چې هر یوه اړیکه په کتاب سره قوي شي
پېښي د تورو لرِ کې ارزښتونه د فکرونو

ندوي که تهانوي که کشمیري او نانوتوي وو
هغوی را رسولي الهامونه د فکرونو

د وحيې وسیله باندې راغلی سپین قرآن دی
علومو يې بیان کړي، عملونه د فکرونو

د فکر ثواب بېل دی او د ذکر ثواب بېل دی
خو فکر ټوکوي ډېر ښایستونه د فکرونو

«خالد تسل» څه نه دی، خو الهام در پېژندلی
الهام د خیال وزر کې ږدي لفظونه د فکرونو

پوهنه او تعلیم!

احمد خاطِري

پوهنه او تعلیم ملکونه سیال جوړوي
چې هر معیار د عصر په کمال جوړوي

توحید چې د سنې وي د مکتب او مدرسې
وختونه منظم د بشپړ کال جوړوي

یووالی او تجدید هم تر نهمه د نصاب
شاکرد پر اسلامي فکري جمال جوړوي

توحید به د لیکدود وي هم عجیب لوی ابتکار
یوون ته د ملت به بل مشال جوړوي

توزیع د کتابونو د علومو د بهیر
اسباب د پرمختک به هممهال جوړوي

وطن به «خاطِري» بیا په دې برخه کي ضرور
د فتحې ښکلې ناوې ته دسمال جوړوي

اسلامي فرهنګ؛ مفهوم، ځانګړنې او د امت د بقا راز

مولوي سردارمحمد «حصيف الحقاني» / ځلورمه برخه

د اسلامي تعليماتو عامول څنګه کېدای شي؟

لومړی: د ديني زده کړو پراختيا

مدارس، جوماتونه، ښوونځي او تعليمي مرکزونه بايد د اسلامي علومو د تدريس لپاره لا پياوړي شي. د قرآنکريم، حديث، فقې، عقيدې او اسلامي اخلاقو زده کړه د ټولنې د ديني پوهاوي کچه لوړوي او خلک له خپل دين سره نښلوي.

دوهم: د دعوت او ارشاد فعاليتونه

علماء، خطيبان او داعيان بايد د وعظ، نصيحت، درسونو او علمي غونډو له لارې د اسلام پيغام خلکو ته ورسوي. د دعوت دا لړی د خلکو په زړونو کې د دين مينه پيدا کوي او اسلامي ارزښتونه په ټولنه کې پياوړي کوي.

دريم: د رسنيو او ټکنالوژی سالمه استفاده

په اوسني عصر کې رسنی او ټولنيزې شبکې د افکارو د خپرولو له ټولو اغيزمنې وسيلې دي. د اسلامي تعليماتو د عامولو لپاره بايد له راډيو، تلوېزيون، ويپانو، ټولنيزو شبکو او نورو عصري وسايلو څخه ګټه واخيستل شي، ځو د اسلام صحيح پيغام تر پراخو قشرونو ورسېږي.

څلورم: د اسلامي کتابونو او آثارو خپرول

د اسلامي موضوعاتو په اړه د کتابونو، مجلو، مقالو او علمي څېړنو ليکل او خپرول د اسلامي پوهې د پراختيا مهمه وسيله ده. دا چاره د اسلامي فرهنګ د فکري بنسټونو په ټينګښت کې ستر رول لري.

پنځم: د کورنۍ ونده

کورنی د تعليم او تربيې لومړنی مرکز دی. مور او پلار بايد خپلو اولادونو ته د اسلامي عقايدو، عباداتو او اخلاقو تعليم ورکړي، ځکه د سالمې اسلامي ټولنې بنسټ له کورنۍ څخه پيلېږي.

شپږم: د اسلامي اخلاقو عملي بېلګه وړاندې کول

د اسلامي تعليماتو د عامولو له ټولو اغيزمنه لاره دا ده چې مسلمانان په خپلو کړنو کې د اسلام ښکلي اخلاق څرګند کړي. رښتينولي، امانتداري، عدل، حيا او وروروليو هغه ارزښتونه دي چې د خلکو زړونه اسلام ته راکاږي.

د اسلامي تعليماتو عامول د اسلامي فرهنګ د بقا او پياوړتيا لپاره يو حياتي اصل دی. کله چې د اسلام علم، پوهاوی او ارزښتونه په ټولنه کې خپاره شي، نو اسلامي هويت به خوندي پاتې شي، فکري انحرافات به کم شي او د امت راتلونکی نسل به د خپل دين او فرهنګ د ساتنې توان ولري. له همدې امله د اسلامي تعليماتو خپرول د هر مسلمان، عالم، ښوونکي او د فرهنګ د خدمتګار ستر مسئوليت دی.

۴- د کورنۍ پياوړتيا:

د اسلامي فرهنګ د بقا، دوام او پياوړتيا له مهمو لارو څخه يوه د کورنۍ پياوړتيا ده. کورنی د ټولنې لومړنی او بنسټيزه روزنيزه اداره ده او د هر ملت فرهنګ، ارزښتونه او عقايد له يو نسل څخه بل نسل ته د کورنۍ له لارې انتقالېږي. که کورنی د اسلامي اصولو پر بنسټ جوړه او اداره شي، نو اسلامي فرهنګ به خوندي پاتې شي؛ خو که کورنی کمزورې شي، د ټولنې ديني او فرهنګي ارزښتونه هم له ګواښ سره مخ کېږي.

د کورنۍ پياوړتيا څنګه کېدای شي؟

لومړی: د اسلامي روزنې فضا رامنځته کول

کورنی بايد د ايمان، تقوا، عبادت او اسلامي اخلاقو مرکز وي. والدين بايد خپل اولادونه له قرآنکريم، سنتو او اسلامي آدابو سره آشنا کړي، ځو د دين او فرهنګ مينه يې په زړونو کې ځای ونيسي.

دوهم: د مور او پلار د مسئوليت احساس

اسلام مور او پلار ته د اولادونو د روزنې ستر مسئوليت سپارلی دی. دوی بايد د خپلو اولادونو د ديني، اخلاقي او فکري روزنې لپاره جدي پاملرنه وکړي او د هغوی لپاره د ښکې ښلکې په توګه عمل وکړي.

دريم: د خپلمنځي مينې او احترام پياوړتيا

هغه کورنی چې د مينې، احترام، همکاری او متقابل درناوي پر بنسټ ولاړه وي، سالم اولادونه روزي. د کورنی غړي بايد يو له بل سره د اسلام د لارښوونو مطابق چلند وکړي، ځکه همدا فضا د سالم شخصيت په جوړولو کې مهم رول لري.

څلورم: د غربي او ناسمو فرهنګي اغيزو مخنيوی

نن ورځ د رسنيو او ټولنيزو شبکو له لارې بېلابېل غير اسلامي افکار او دودونه کورنيو ته داخلېږي. والدين بايد د خپلو اولادونو فکري او اخلاقي ساتنې ته پاملرنه وکړي او د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې هغوی ته سمه لارښوونه وکړي.

پنځم: د اسلامي آدابو او دودونو ژوندی ساتل

د سلام دودول، د جماعت لمونځ، د قرآن تلاوت، د خپلوانو پالنه، د مشرانو احترام او نور اسلامي آداب بايد په کورنی کې عملي شي، ځکه دا چارې د اسلامي فرهنګ د دوام سبب ګرځي.

شپږم: د تعليم او تربيې ترمنځ توازن

کورنی بايد يوازې د مادي او عصري زده کړو فکر ونه کړي، بلکې د ديني تعليم او اخلاقي تربيې لپاره هم زمينه برابره کړي، ځو اولادونه د علم ترڅنګ د اسلامي شخصيت خاوندان هم شي.

کورنی د اسلامي فرهنګ د ساتنې او انتقال له ټولو مهمه کلا ده. کله چې کورنی د اسلام د اصولو له مخې پياوړې، بااخلاقه او روزنيزه وي، نو سالم نسلونه روزل کېږي، اسلامي ارزښتونه ژوندی پاتې کېږي او د امت فرهنګي هويت له زوال او انحراف څخه خوندي کېږي. له همدې امله د اسلامي فرهنګ د بقا او پياوړتيا لپاره د کورنی پياوړتيا يو بنسټيز او نه جلا کېدونکی اصل ګڼل کېږي.

- د رسنيو سالم استعمال:

د اسلامي فرهنګ د بقا او پياوړتيا له مهمو لارو څخه يوه د رسنيو سالم، مسئولانه او هدفمند استعمال دی. په اوسني عصر کې رسنی د افکارو، معلوماتو او فرهنګونو د لېږد له ټولو ځواکمنې وسيلې ګڼل کېږي. همدا رسنی کولای شي د يوه ملت عقايد، ارزښتونه او فرهنګ پياوړی کړي او هم يې د کمزورۍ او زوال لامل وګرځي. له همدې امله د اسلامي فرهنګ د ساتنې لپاره اړينه ده چې رسنی د اسلامي ارزښتونو د خپرولو او د امت د فکري روزنې لپاره وکارول شي. **نور بيا...**

د خوشحاله او کامياب ژوند اصول

شپږمه برخه / احمد ياسين زعيم

شپږم اصل: د الله تعالی ذکر

هغه کسان چې د دنيا د ستونزو او مصيبتونو له امله تل غمجن وي، او غمونو او کړاوونو يې خوښی تری اخيستې وي، د هغوی د زړونو د سکون او اطمينان لپاره شپږم اصل د الله تعالی ذکر دی.

الله تعالی فرمايي:

ژباړه: هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او زړونه يې د الله په ياد سره ډاډه کېږي. واورئ! يوازې د الله په ياد سره زړونه سکون او اطمينان مومي.

له ټولو غوره ذکر «لا إله إلا الله» دی. همدارنګه د قرآنکريم تلاوت، چې د هر حرف په بدل کې لس نېکی ورکول کېږي. بيا «سبحان الله، الحمد لله، الله أکبر» دی، چې د جنت ونې بلل شوې دي او «لا حول ولا قوة إلا بالله» د جنت له خزانو څخه يوه خزانه ده. همدارنګه «سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظيم» هغه کلمات دي چې الله تعالی ته ډېر محبوب دي او د اعمالو په تله کې ډېر درانه دي.

د قرآنکريم د دې آيت په رڼا کې مور، د مؤمنانو په توګه، بايد پوره باور ولرو چې يوازې د الله په ذکر سره زړونه تازه کېږي، حقيقي سکون ترلاسه کوي او د غمونو او اندېښنو بار سپکېږي.

خو د افسوس ځای دی چې نن سبا ډېر مسلمانان د خپلو غمونو د کمولو او د زړه د خوشحالولو لپاره سندرې اوري او فلمونه ګوري، حال دا چې په دې سره غم نه کمېږي، بلکې لا زياتېږي؛ ځکه د سندرو اوربدل او د فلمونو ليدل حرام دي او له حرام کار څخه له غم او اندېښنې پرته بل څه نه ترلاسه کېږي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

ژباړه: «زما په امت کې به داسې خلک راشي چې زنا، وربښمين لباس، شراب او موسيقي به حلاله وګڼي.»

د دې څلورو شيانو له حلال ګڼلو مطلب دا دی چې په حقيقت کې دا حرام دي، خو خلک بېه يې حلال وبولي، ګواکې حرام نه دي.

د موسيقی د بدوالي اندازه له دې څخه معلومېږي چې رسول الله ﷺ هغه د زنا او شرابو په څېر له سترو ګناهونو سره يو ځای ياده کړې ده.

او هغه کسان چې فلمونه ګوري، بايد د الله تعالی دا فرمان تل په ياد ولري:

ژباړه: «مؤمنانو سړيو ته ووايه چې خپلې سترګې ټيټې وساتي او د خپلو شرمځايونو ساتنه وکړي؛ دا د هغوی لپاره ډېر پاکوالی دی، او الله تعالی په هغو کارونو ښه خبر دی چې دوی يې کوي.»

د الله تعالی د ذکر د فضيلت او ګټو په بيان کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله تعالی فرمايي: زه له خپل بنده سره د هغه د ګومان مطابق چلند کوم او کله چې هغه زما ياد کوي، زه ورسره يم. که هغه ما په خپل زړه کې ياد کړي، زه يې هم په خپل ذات کې يادوم. که هغه ما په يوه غونډه کې ياد کړي، زه يې په هغې غونډې کې يادوم چې د هغوی له غونډې غوره ده. که هغه يوه لوښت راته نږدې شي، زه يو لاس ورنږدې کېږم. که هغه يو لاس راته نږدې شي، زه يو باع (د دواړو لاسونو د غځولو په اندازه) ورنږدې کېږم او که هغه په قدم وهلو زما لوری ته راشي، زه په منډه د هغه لوری ته ورځم. **نور بيا...**

د ناقانونه ودانيو د مخنيوي لپاره منظم ...

د دغو پلانونو د سم تطبيق څارنه او نظارت هم کوي، ترڅو په ښارونو کې د غيرپلانې ودې او پراختيا مخه ونيول شي. د نومورې په وينا، که څه هم د ودانيزو جوازونو ورکول د ښارواليو مسئوليت دی، خو ودانيز جواز دا تضمينوي چې ودانی د تخنيکي، انجنيري او ښاري معيارونو له مخې جوړې شي. همدارنګه، د جواز لرل د ودانی قانوني حيثيت تثبيتوي او د راتلونکو حقوقي ستونزو د رامنځته کېدو مخنيوی کوي. د وزارت مسئولين وايي: د ناقانونه ودانيو د مخنيوي لپاره د کور او ښار جوړولو وزارت ښاري پلانونه، د ښارواليو، ځمکو او ښاري پراختيا اړوند قوانين او مقررات نافذ دي، چې له مخې يې بې‌اجازې ودانيز فعاليتونه منع دي او له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي. د دوی په خبره، د ناقانونه ودانيو مخنيوی د منظمې ښاري پراختيا، د عامه خدماتو د عادلانه وېش او د زېربناوو د اغېزمنې استفادې لپاره خورا مهم دی؛ ځکه کله چې ودانيز فعاليتونه د منظورو شويو پلانونو له مخې ترسره شي، ښارونه په منظم او دوامدار ډول وده کوي. مسئولينو زياته کړه: د قانون د پلي کېدو او ځارنې په برخه کې د وزارت اقداماتو مثبتې پايلې ورکړې دي، خو د لا غوره اغېزو لپاره د خلکو همکاري او دوامدار نظارت هم اړين دی. د دوی په وينا، ناقانونه ودانی د شنو سيمو د کمېدو، د فاضله اوبو د مديريت د ستونزو، د ترافيکي ګنې‌ګونې او د اوبو، بربښنا او نورو عامه خدمتونو پر شبکو د فشار د زياتېدو لامل هم ګرځي. له همدې امله، خلک بايد د وزارت ښاري پلانونه عملي، ودانيز قوانين مراعات او ودانيز جوازونه ترلاسه کړي او ټولې چارې د نافذو اصولو له مخې پر مخ بوزي. دوی همداراز ټينګار کوي چې د ښاري پلانونو مراعاتول د منظم، خوندي او دوامدار ښار بنسټ جوړوي. د دوی په خبره، د ناقانونه ودانيو مخنيوی د سړکونو، پارکونو، ښوونځيو، روغتيايي مرکزونو او نورو عامه تاسيساتو لپاره د ځانګړو شويو ساحو ساتنه يقيني کوي. دا چاره د ښارونو د متوازن پرمختک، د خلکو د ژوند د کيفيت د لوړولو او د راتلونکو نسلونو لپاره د مناسب ښاري چاپېريال په رامنځته کولو کې مهم رول لري. د کابل ښار يو تن اوسېدونکي، استاد عبدالرشيد مراد، شريعت ورځپاڼی ته ويلي: د ناقانونه ودانيو مخنيوی د ښارونو د منظمې ودې لپاره ډېر مهم دی؛ ځکه کله چې ودانی د ښاري پلانونو او نافذو قوانينو له مخې جوړې شي، د سړکونو، پارکونو او نورو عامه تاسيساتو لپاره ځانګړې شوې ساحې خوندي پاتې کېږي. نومورې ټينګار وکړ چې خلک بايد له ودانيزو جوازونو پرته د ودانيو له جوړولو ډډه وکړي او له اړوندو ادارو سره همکاري وکړي.

د لغمان ښار يو تن اوسېدونکی، انجنير محمد نبي صافي، وايي چې ناقانونه ودانی نه يوازې د ښار ښکلا زيانمنوي، بلکې د خلکو لپاره ګڼې ستونزې هم رامنځته کوي. د نومورې په خبره، کله چې ودانی د ښاري پلانونو خلاف جوړې شي، سړکونه تنګېږي او د عامه خدمتونو وړاندې کول له ستونزو سره مخ کېږي. ده زياته کړه: د کور او ښار جوړولو وزارت او ښارواليو هڅې د ستاينې وړ دي، خو د دې ستونزې د بشپړ حل لپاره د خلکو پوهاوی او د قوانينو جدي پلي کول هم اړين دي.

حضرت بلال صافی

کندز کې لسګونه انکشافي...

هوارې شوي او د خلکو د ژوند په ښه والي کې يې اغېزمن رول لوبولی دی. په همدې حال کې، د کندز اوسېدونکو د دغو زېربنايي پروژو هرکلی کړی او ټينګار يې کړی چې د ورته پرمختيايي پروژو عملي کېدل نه يوازې د اقتصادي ودې او ټولنيز پرمختګ لامل ګرځي، بلکې سلګونو بېکارو ځوانانو ته د کار او عايد زمينه هم برابروي. د اقتصاد رياست مسئولين زياتوي چې په کندز ولايت کې د انکشافي فعاليتونو بهير لا هم په چټکی روان دی او د روان کال په ترڅ کې د ګنو نورو حياتي او مهمو پروژو چارې هم دوام لري، چې تمه ده يو شمېر يې په نږدې راتلونکي کې بشپړې او د خلکو ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

پرداخت حقوق ورثه شهداء و معلولين...

برای ۲۳۶۶ تن از ورثه شهداء پرداخت شده است. وی افزود که در این مدت ۱۶۷ پرونده جدید در بخش ورثه شهداء و افراد دارای معلولیت ثبت و انگشت نگاری و اسناد ۴۸۲ یتیم طی مراحل شده و همچنان خدمات حمایتی نیز ارائه شده است. رئیس شهداء و معلولین کاپیسا، اضافه کرد که در این مدت برای ۷۰۰ تن مواد غذایی توزیع شده، ۳۰ تن برای درمان و ۳ تن جهت فراگیری تحصیل به نهادهای صحی و آموزشی معرفی شده اند وهمچنان برای ۹۵۰ تن، به هدف توانمندسازی و ایجاد اشتغال، در رشته‌های فنی و حرفه یی زمینه کار مساعد شده است. او از تلاش های رهبری این اداره به خاطر فراهم کردن سهولت های لازم و حمایت های موثر از ورثه شهداء و افراد دارای معلولیت، اطمینان داد.

د خصوصي سکټور له استازو سره د مالیې وزارت ...

ويلي دي: «د اسلامي امارت د رهبری د لارښوونو له مخې د مالیې وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ منظمې ناستې په دې موخه ترسره کېږي، چې د مالياتو او ګمرکونو په برخو کې شته ستونزې وڅېړل شي، د حل مناسبې لارې ورته وموندل شي او پايلې يې له مشرتابه سره شريکې شي.»

وروسته، د عوايدو لوی رئيس مولوي سفر محمد سحر، د مالياتي خدمتونو د لا ښه والي، د متقابل باور د پياوړتيا او د برښنايي سيستمونو د پراختيا په اړه خبرې کړي او ويلي يې دي چې عصري سيستمونه، د مالياتي چارو د چټکتيا، روښتيا او د اسانتياوو په برابرولو کې مهم رول لري.

دغه راز د افغانستان د سوداګری او پانګونې او د صنايعو او کانونو خونو استازو، د خصوصي سکټور ستونزو ته پر وخت د رسېدنې په خاطر؛ له مالیې وزارت څخه منته کړې ده.

د ناستې په پای کې، د ګډونوالو ستونزې، نظرونه او وړانديزونه اوربدل شوي او د اصولي رسېدنې په اړه يې دا وړ ورکړل شوی دی.

بررسی مسوده قانون پناهندگی با حضور...

و عودت‌کنندگان می‌گوید که در نشست یادشده نمایندگان وزارت‌های امور خارجه، داخله، عدلیه، محاکم و ریاست عمومی استخبارات حضور داشتند. به گفته این وزارت، در نشست، مسوده قانون پناهنده گی مورد بحث و بررسی قرار گرفته و نمایندگان وزارت‌های مربوطه نظریات و پیشنهادهای شان را پیرامون بهبود و اصلاحات لازم در این قانون ارایه کردند. مولوی راشد در این نشست گفته که قانون پناهندگی باید با در نظر گرفتن اصول شرعی و اسلامی، زمینه تأمین حق پناهندگی را فراهم سازد. به گفته مسئولان، مسوده این قانون از سوی کمیته اختصاصی وزارت امور مهاجرین نهایی شده و به‌زودی برای طی مراحل قانونی به وزارت عدلیه سپرده خواهد شد.

خوست کې د نږدې ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت...

ادارو د مسئولینو، قومي مشرانو او د سيمې د اوسېدونکو په ګډون د خانګړو مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه.

د مسئولينو په وينا، دغه روغتون د عامې روغتيا وزارت د پراختيايي بودجې له لارې په ۵ جريبه ځمکه کې د نږدې ۵۰ ميليونو افغانيو په لګښت جوړېږي او د جوړولو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې بشپړې شي.

ويل کېږي، چې د ياد روغتون په طرحه کې دوه معياري ودانی، جومات، ګدام، د ښځينه او نارينه‌وو لپاره جلا انتظار خونې، شنه ساحه او نور اړين ملحقات شامل دي.

د خوست د عامې روغتيا رئيس مولوي اختر محمد عکرمه د مراسمو پرمهال وويل چې د تنبو ولسوالی لپاره د ديوه مجهز عمومي روغتون د جوړېدو پيل د دغې سيمې د خلکو لپاره مهم ګام دی او په بشپړېدو سره به يې د سيمې اوسېدونکي معياري او اړينو روغتيايي خدمتونو ته اسانه لاسرسی ومومي.

نومورې د روغتون د منظوری او عملي کېدو په برخه کې د مشرانو او ټولو همکارو لوريو له همکاريو مننه وکړه او زياته يې کړه، چې په نږدې راتلونکي کې به د خوست ولايت په نورو سيمو کې هم ورته روغتيايي پروژې پلې شي.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو معين مولوي عبدالولي حقاني هم د پروژې د پيل مبارکي ووياله او ټينګار يې وکړ، چې د وزارت رهبري ژمنه ده څو د هېواد ټولو وګړو ته معياري، عادلانه او باکيفيته روغتيايي خدمات وړاندې کړي. د ده په وينا، د ياد روغتون په جوړېدو سره به د تنبو ولسوالی د اوسېدونکو روغتيايي ستونزو ته په اغېزناک ډول رسېدنه وشي.

په همدې حال کې د خوست ولايت مرستيال مولوي محبوب شاه قانت د روغتون جوړېدل د روغتيايي سکټور په برخه کې يو مهم پرمختګ وباله او ويې ويل، چې دا روغتون به د دغې ولسوالی د خلکو لپاره د معياري روغتيايي خدمتونو يو باوري مرکز وي.

ده زياته کړه، چې دا مهال په خوست ولايت کې يو شمېر نورې پراختيايي پروژې هم تر کار لاندې دي او له خلکو يې وغوښتل، چې د عامه پروژو په ساتنه او پالنه کې خپل مسئوليت ادا کړي.

د يادونې وړ ده، چې په تنبو ولسوالی کې جوړېدونکی ۵۰ بسترېز عمومي روغتون به د داخله، جراحی، نسايي ـ ولادي او اطفالو په ځانګو کې د متخصصو ډاکټرانو له لوري د بستر او خارج بستر (OPD) په کچه معياري روغتيايي خدمات وړاندې کړي، چې د ولسوالی او شاوخوا سيمو د اوسېدونکو د روغتيايي اړتياوو په پوره کولو کې به مهم رول ولوبوي.

د بهرنيو چارو وزير د قطر پخواني امير ...

وزير شيخ سعود بن عبدالرحمن بن حسن آل‌ثاني او همدارنګه د بهرنيو چارو وزارت کې د دولت وزير ډاکټر محمد بن عبدالعزيز الخليفي سره هم وکتل او د والاحضرت شيخ حمد بن خليفه آل ثاني د وفات له امله يې هغوی ته د خواخوږی، تسليت او ډاډګيرنې مراتب وړاندې کړل.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان پروژه (عقد بیع استصناع) حفر یک حلقه چاه عمیق در مدیریت گاز مایع ولایت کابل :

شرکت امارتی نفت گاز افغانستان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: حفر یک حلقه چاه عمیق در مدیریت گاز مایع ولایت کابل دارای شماره تشخیصیه (AOGC/NCB/1405/W-30) اشتراک نموده و شرطنامه را به شکل سافت از سایت تدارکات ملی و {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} در اوقات رسمی بدست آورده، داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۴ روز تقویمی به {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند؛ آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. و جلسه آفرگشایی بروز تعیین شده مندرج در شرطنامه ساعت ۱۰:۳۰ بجه قبل از ظهر در شرکت امارتی نفت گاز افغانستان دایر میگردد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان پروژه (عقد بیع استصناع) حفر چاه آب آشامیدنی ضرورت آمریت نفت و گاز ولایت ننگرهار :

شرکت امارتی نفت گاز افغانستان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: حفر چاه آب آشامیدنی ضرورت آمریت نفت و گاز ولایت ننگرهار دارای شماره تشخیصیه (AOGC/NCB/1405/W-14) اشتراک نموده و شرطنامه را به شکل سافت از سایت تدارکات ملی و {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} در اوقات رسمی بدست آورده، داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۲ روز تقویمی به {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند؛ آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. و جلسه آفرگشایی بروز تعیین شده مندرج در شرطنامه ساعت ۱۰:۳۰ بجه قبل از ظهر در شرکت امارتی نفت گاز افغانستان دایر میگردد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان پروژه (عقد بیع استصناع) حفر چاه عمیق آب آشامیدنی به منظور تامین آب صحی ذخایر شور اندام دفتر عینو مینه و دفتر مرکزی :

شرکت امارتی نفت گاز افغانستان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: حفر چاه عمیق آب آشامیدنی به منظور تامین آب صحی ذخایر شور اندام دفتر عینو مینه و دفتر مرکزی دارای شماره تشخیصیه (AOGC/NCB/1405/W-18) اشتراک نموده و شرطنامه را به شکل سافت از سایت تدارکات ملی و {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} در اوقات رسمی بدست آورده، داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۶ روز تقویمی به {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند؛ آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. و جلسه آفرگشایی بروز تعیین شده مندرج در شرطنامه ساعت ۱۰:۳۰ بجه قبل از ظهر در شرکت امارتی نفت گاز افغانستان دایر میگردد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان (پروژه: خریداری پرزه جات وسایط تیز رفتار ضرورت مرکز و ولایات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان)

شرکت امارتی نفت گاز افغانستان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه: خریداری پرزه جات وسایط تیز رفتار ضرورت مرکز و ولایات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان دارای شماره تشخیصیه (AOGC/NCB/1405/G-18) اشتراک نموده و شرطنامه را به شکل سافت از {آمریت تهیه وتدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} در اوقات رسمی بدست آورده، داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۲ روز تقویمی به {آمریت تهیه و تدارکات شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند؛ آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. اظهارنامه تضمین آفر خانه پری، مهر و امضاء گردد و جلسه آفرگشایی بروز تعیین شده مندرج در شرطنامه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر در تعمیر جدید شرکت امارتی نفت گاز افغانستان دایر میگردد.

***

اطلاعیه مزایده جایداد

قرار است مطابق به فیصله خط های شرعی نمبر (۳۲۰) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۰ (۳۲۳) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۰۸) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۳ (۳۱۲) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۰۷) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۳ (۳۱۰) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۳ (۳۱۴) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۱۸) ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۲۴) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۱۵) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۲۵) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۲۱) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۱۶) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۱۳) ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۱۷) ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۲۲) ۱۴۴۷/۷/۱۵ (۳۰۱) ۱۴۴۷/۷/۱۷ (۳۰۰) ۱۴۴۷/۷/۱۱ (۳۱۱) ۱۴۴۷/۷/۱۳ صادره دیوان امنیت عامه ریاست محترم محکمه ابتدائیه زون اول ولایت کابل و پیشنهاد تجویزی شماره (۸۷۶۲) آمریت تطبیق حوزه اول و احکام مورخی ۱۴۴۸/۱/۱۴ دیوان امنیت عامه محکمه ابتداییه زون اول به تعداد پنج باب دوکاکین قصر بختاور واقع شهر نو مربوط ناحیه چهارم شهر کابل هر یک (L2-118) به مساحت هفت و نیم متر مربع (L2-95) به مساحت نه متر مربع (L2-96) به مساحت نه متر مربع (L2-107) به مساحت هشت اعشاریه هشت متر مربع و (L2-105) به مساحت هشت اعشاریه هشت متر مربع که مجموعی آنها (۴۲.۹) متر مربع میشود در تضمین سر مال محترم حاجی مومن فرزند حاجی وزمین از طریق مزایده و داوطلبی به فروش می رسد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش اشتراک در مجلس داوطلبی را داشته باشند درخواست های خویش را در خلال مدت ۱۵ روز اعتبار از تاریخ نشر اعلان به ریاست حقوق ولایت کابل واقع تعمیر سابقه وزارت عدلیه پشتونستان وات بسپارند تضمین به صورت نقدی اخذ می گردد.۳۶۲۱

***

اطلاعیه لیلام

موسسه (موسسه تعلیمی، اجتماعی و صحی (ECHO) در نظر دارد ۱۸۸ قلم اجناس مختلف النوع داغمه خویش را از طریق پروسه لیلام به فروش برساند. اشخاص و شرکت های که خواهش اشتراک در پروسه و خریداری داغمه جات فوق را داشته باشند به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۳۱ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به ساحه (سرک عمومی میدان، همجوار هوتل کاخ سفید مجتمع آب بازی عزیزی) مراجعه نمایند، قابل ذکر است که ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.

تاریخ برگزاری لیلام : ۱۴۰۵/۴/۳۱

زمان : ساعت ۹ بجه قبل از ظهر.

محل برگزاری: سرک عمومی میدان ،همجوار هوتل کاخ سفید مجتمع آب بازی عزیزی.

جهت کسب معلومات بیشتر،لطفا با شماره های ذیل در تماس شوید.

تیلیفون: ۰۷۸۸۴۸۱۱۵۵ / ۰۷۸۳۲۶۸۹۲۶

۳۶۳۲

***

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت امارتی ارزاق در نظر دارد یک باب هنگر واقع پلچرخی ملکیت خویش را به کرایه ماهوار مبلغ (۱۲۲۵۰۰) افغانی به کرایه بسپارد.

اشخاص و شرکت های واجد شرایط که به جایداد فوق ضرورت داشته و کرایه بیشتر بپردازند درخواست های خویش را الی مدت ۲۱ یوم بعد از نشر اعلان به آمریت املاک، شرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکز سپرده خود شان به روز داوطلبی (مزایده) حاضر شوند. شرطنامه را در بدل قیمت معین بدون بازگشت بدست آورده می توانند تضمین نقدا اخذ می گردد.۳۳۲۹

***

اطلاعیه لیلام

شرکت امارتی مطبعه صکوک و ضرابخانه مقدار ۴۵۰۰۰ کیلو گرام کاغذ تریشه اضافه برش خویش را به تاریخ ۱۴۰/۵/۱۲ از طریق لیلام به فروش میرساند. شرکت ها و یا اشخاص که خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ متذکره واقع سرای شمالی ناحیه هفدهم در مقر ریاست مطبعه صکوک حاضر گردد و ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.۳۶۴۳

***

اطلاعیه لیلام

وزارت مالیه به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۷ به مقدار(۳۵) بیلر مبلایل سوخته را میخواهد به بلندترین قیمت به نفع امارت اسلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ مذکور به اکادمی گمرکات حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸) به تماس شوند، پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

***

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۵ به اسم سید قاسم فرزند سید هاشم مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۰۱

***

اعلان مفقودی

یک قطعه ایروبل دارای نمبر ۷۴۷۲۰۳۰۷۲۵۴ به اسم شهید سردار محمد داود خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۳۵

***

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۵ به اسم تیمور شاه فرزند محمد آصف مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۱۶

***

اطلاعیه مفقوی

یک قطعه جواز شرکت ظهور زبیر لمتید نمبر ۲۹۳۵۱ به اسم احمد ظهور فرزند ذکریا مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۲۵

د کمیت پر ځای باید کیفیت ته لومړیتوب...

ټکنالوژي او علمي نوښتونه نه یوازې اقتصادي پرمختک چټکوي، بلکې د کرنې، روغتیا، صنعت، امنیت او عامه خدمتونو په ښه والي کې هم اساسي رول لري. افغانستان هم باید له دې بهیر څخه وروسته پاتې نه شي او د خپلو ځوانانو د استعدادونو د روزنې لپاره لازم امکانات برابر کړي.

د افغانستان ځوانان د استعداد، نوښت او زده‌کړې پراخ ظرفیت لري. که د کیفیت پر بنسټ د زده‌کړو مناسب چاپیریال، معیاري امکانات او ځېرنیزې اسانتیاوې ورته برابرې شي، لرې نه ده چې هېواد به د سیمې په علمي او ټکنالوژیکو پرمختګونو کې د پام وړ ځای خپل کړي.

د علم او پوهې په برخه کې پانګونه د هېواد پر راتلونکي پانګونه ده. هره پربکړه چې د لوړو زده‌کړو کیفیت لوړوي، په حقیقت کې د افغانستان د اقتصادي ودې، ځواکمنتیا او علمي خپلواکی لپاره بنسټ ږدي. د وخت غوښتنه دا ده چې د کمیت پر ځای کیفیت ته ارزښت ورکړل شي، ځکه همدا کیفیت د یوه پرمختللي، باعزته او له نړۍ سره د سیال افغانستان ضمانت کولای شي.

قزاقستان ته د خامو معدني موادو...

د تدریجي کمښت له امله په دې برخه کې نسبي کموالی رامنځته شوی و.

د ناګاسپایف په خبره، د مسو، جستو (زنک) او سرو زرو د خامو توکو کورنی عرضه ډېره شوې، د جستو کنسانټرې لېږد ښېرته پیل شوی او له افغانستان او قرغیزستان څخه د معدني خامو موادو د واردولو هوکړې هم شوې دي.

د قزاقستان د صنعت وزیر همدارنګه ویلي: د روان کال په لومړۍ نیمایي کې د دغه هېواد تولیدي سکتور ۹.۸ سلنه وده کړې چې عمده لامل یې د نویو کارخونو او صنعتي پروژو پرانیستل دي.

توزیع کمک‌های غذایی برای دوهزار خانواده...

در کاهش مشکلات اقتصادی خانواده‌های آسیب‌پذیر و تأمین نیازهای اساسی آنان نقش مهمی داشته باشد.

قابل یادآوریست که بنیاد خیریه ملک سلمان پیش از این نیز در شماری از ولایت‌های کشور، از جمله لوگر و پنجشیر، برای خانواده‌های نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرده است.

تکمیل یک پروژه زیربنایی برای کاهش ...

حدود ۱۲۰ جریب زمین زراعتی و نزدیک به ۱۵۰ خانواده از خطر سیلاب مصئون شده‌اند. به گفته منبع، این دیوار استنادی ۲۷۷ متر طول دارد و کار ساخت آن طی چهار ماه از بودجه انکشافی وزارت آب و انرژی به پایان رسیده است.

پروان کې د ۴۹ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو ...

او کوه صافي ولسوالیو کې پلي شوې دي، چې موخه یې خلکو ته د څښاک د پاکو اوبو برابرول او د اوبو د ستونزو کمول دي. چارواکي زیاتوي، چې یادې شبکې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ جوړې شوې دي او د دغو پروژو په بشپړېدو سره ۲ زره او ۴۳۴ کورنۍ د څښاک د پاکو اوبو له اسانتیاوو برخمنې شوې دي. د پروان اوسېدونکي د دغو پروژو هرکلی کوي او وایي: د پاکو اوبو برابرول د خلکو د روغتیا د خوندیتوب ترڅنګ د ورځنیو ستونزو په کمولو کې مهم رول لري.

د یادونې وړ ده، چې د اوبو رسولو د شبکو جوړول د کلیوالو سیمو د بنسټیزو خدمتونو له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي، چې د خلکو د ژوند د کیفیت په ښه والي کې اغېزمن تمامېږي.

میدان وردګو کې د خبریالانو او لیکوالانو د ظرفیت...

په دغه سمینار کې د میدان وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي حبیب‌الله مجاهد ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې رسنۍ، خبریالان، لیکوالان او قلموال باید د حقایقو په بیانولو کې دقت وکړي. نومورې زیاته کړه: په دغه ولایت کې د رسنیو او امارتي ادارو ترمنځ ښه همغږي موجوده ده او رسنۍ خپل مسئولیتونه په ښه توګه ترسره کوي. ورته مهال د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین مهاجر فراهي وویل، چې د تېر اشغال پېښې او اغېزې باید ولس ته په روښانه ډول بیان شي. ده همدارنګه ټینګار وکړ چې د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه‌الله» د ۱۷مې کڼې فرمان په اړه دې د علماوو او اړوندو مسئولینو له لارې عامه پوهاوی زیات او د ناسمو دودونو زیانونه دې خلکو ته تشریح شي.

همدارنګه پر ټولنیزو رسنیو د ځار رئیس مولوي صفي‌الله رائد وویل: قلموال باید د تعصب، قوم‌پالنې او ژبنیو اختلافاتو پر وړاندې د حق غږ پورته کړي. نومورې ځوانان د هېواد د راتلونکي مهم ځواک وباله او ویې ویل: د علم، څېړنې، نوښت او خدمت په برخه کې د دوی ونده د ټولنې د پرمختک لپاره ارزښتناکه ده.

په پای کې د چارو اداري عمومي رئیس شیخ نورالحق انور هم په خپلو خبرو کې وویل: اسلام د انسان جوړونې دین دی او رسنۍ باید د اسلامي او ټولنیزو ارزښتونو د پیاوړتیا او د ټولنې د یووالي لپاره رغنده رول ولوبوي. هېره دې نه وي چې له دې وړاندې په پروان، کاپیسا او پنجشېر ولایتونو کې هم ورته سمینارونه جوړ شوي دي.

عقد قرارداد ایجاد سایت‌های مخابراتی جدید...

به امضا رسیده‌است. در خبرنامه آمده‌است که از مجموع ۱۱ سایت، هشت سایت از سوی شرکت مخابراتی اتوما در ولسوالی‌های بهارک ولایت تخار، خرم و سارباغ ولایت سمنگان، تاله و برفک ولایت بغلان، سیدکرم ولایت پکتیا، نعمت‌آباد ولایت پکتیکا، سپیره ولایت خوست و ازرهٔ ولایت لوگر ساخته خواهد شد. همچنین، یک سایت مخابراتی از سوی شرکت مخابراتی افغان بیسیم در ولسوالی گذرگاه ولایت بغلان و دو سایت دیگر از سوی شرکت مخابراتی اتصالات در ولسوالی خواجه‌غار ولایت تخار و ولسوالی تنی ولایت خوست ساخته و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد. قابل یادآوری است که پیش از این، در چارچوب پروژهٔ دهم دسترسی همگانی، ساخت ۵۵۰ سایت مخابراتی در مناطق مختلف کشور برنامه‌ریزی شده بود که از این میان ۴۰۰ سایت به بهره‌برداری رسیده و کار ساخت سایر سایت‌ها همچنان ادامه دارد.

هرات کې د تولید شویو جامو دویمه جوپه عراق...

ویل شوي، په دې جوپه کې د هرات د تولید شویو جامو ۱۰۰ بېلابېل ډولونه شامل دي، چې د عراق بازار ته لېږدول شوي دي. د جامو تولیدوونکو اتحادیه وایي: د دغو صادراتو دوام به د هرات د تولیدي سکتور د ودې، د کارموندنې د زیاتوالي او د کورنیو تولیداتو د پراختیا لپاره مثبتې اغېزې ولري.

هند: له افغانستان سره مو د هوایي دهلیز له لارې...

چې د افغانستان د کرنې وزیر مولوي عطاءالله عمري د خپل نړدې یوې اوونۍ سفر پر مهال د هند له یو شمېر لوړپوړو چارواکو او وزیرانو سره لیدلي او د دوه اړخیزو همکاریو په اړه یې خبرې کړې دي. ده زیاته کړې، چې د افغانستان د کرنې وزیر د هند د سوداګرۍ او صنایعو خونې فدراسیون، د کرنې سکتور له استازو او یو شمېر ملي او نړیوالو بنسټونو سره هم کتنې ترسره کړې دي. د هند د بهرنیو چارو وزارت په وینا، دغه سفر او ترسره شوې ناستې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ، کرنې او اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا لپاره د پام وړ بلل کېږي.

گسترش همکاری‌های تخصصی و معیاری...

دو کشور، افزون بر ارتقای کیفیت کالاها، در حفظ سلامت مردم، حقوق مصرف‌کننده‌گان و منافع عمومی نیز نقش مهمی دارد.

سفیر ایران در کابل نیز گفته‌است که کشورش آماده‌گی کامل دارد تا در بخش معیارها، معیارسازی و انتقال تجارب تخنیکی با ادارهٔ معیار و کیفیت افغانستان همکاری کند. خبرنامه افزوده‌است که وی از رئیس عمومی ادارهٔ معیار و کیفیت برای سفر رسمی به ایران دعوت کرده تا از ادارهٔ ملی ستندرد ایران و بخش‌های مربوطه آن دیدن کند. در پایان، دو طرف بر تداوم تعاملات سازنده، گسترش همکاری‌های تخصصی و استفاده از ظرفیت‌های موجود به‌منظور تقویت هرچه بیشتر روابط تجاری میان دو کشور تأکید کردند.

د واخان دهلیز د سړک جوړولو چارې...

له بلې خوا، د دفاع وزارت لوی درستیز قاری فصیح‌الدین فطرت ویلي: که د واخان دهلیز د لارې د پرانیستلو پربکړه وشي، امنیتي ځواکونه بشپړ چمتو دي چې د دې لارې امنیت خوندي کړي. ده وویل: «که د دې لارې د پرانیستلو هر ډول پلان عملي شي، زمونږ امنیتي ځواکونه د امنیت د ټینګښت لپاره بشپړ چمتووالی لري او په دې برخه کې ګاونديو هېوادونو ته هم ډاډ ورکوو.» د واخان دهلیز پرانیستل به په تېره بیا له چین سره د افغانستان د سوداګریزو توکو لېږد اسانه کړي او افغان سوداګرو ته به د سیمې بازارونو ته د نورو ترانزیتي لارو په پرتله چټک او اسانه لاسرسی برابر کړي. له دې وړاندې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت هم اعلان کړی و چې د واخان دهلیز د سړک د جوړولو چارې په دوو برخو کې روانې دي. د دغه وزارت په وینا، د پروژې له بشپړېدو وروسته به افغانستان د واخان دهلیز له لارې له چین سره ونښلول شي، چې له امله به یې د سوداګرۍ، ترانزیت او سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ لپاره نوي فرصتونه رامنځته شي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹٦۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Thursday 16 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1108

د بهرنیو چارو وزیر د قطر پخواني امیر د تعزیت په موخه دوحې ته رسېدلی

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقـي او مل پلاوي پـه دوحه کې د قطـر دولـت د پخوانـي امیر، والاحضرت شـیخ حمد بن خلیفه آل ثاني د وفات له امله د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د قطـر دولت امیـر، والاحضرت شـیخ تمیم بن حمـد آل ثاني ته د خواخـوږۍ او ډاډګیرنـي مراتب ورانديږ کړل.

د دې سـفر پـه ترڅ کې ښـاغلي متقي د قطر دولت د وزیرانو شـورا لـه رئیـس او د بهرنیـو چـارو له وزیر، جلالتمآب شـیخ محمد بن عبدالرحمـن آل ثانـي، د وزیرانو شورا مرستیال او د دفاع ... ٦مخ

بررسی مسوده قانون پناهندگی با حضور نمایندگان چندین نهاد دولتی

نشسـت بررسـی مسـوده قانون پناهندگـی بـه ریاسـت مولوی عبدالرحمـن راشـد، معیـن مسـلکی وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان برگزار شد.

وزارت امور مهاجرین... ص٦

خوست کې د نړۍ ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت یو معیاري روغتون جوړ‌ږي

د خوست ولایت په تنیو ولسوالۍ کـې د یـو ۵۰ بسـتریز عمومي روغتـون (GH) د جوړېـدو د بنسـټ ډبره د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو د معین مولـوي عبدالولي حقاني، د خوسـت ولایـت د مرسـتیال مولوي محبوب شاه قانت، د عامې روغتیا د رئیس مولوي اختر محمد عکرمه، د بېلابېلو... ٦مخ

د خصوصي سکټور له استازو سره د مالیې وزارت د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن «حفظه‌الله» د حکم پر بنسټ او د عوایـدو او ګمرکونـو د معین مفتي عبدالمتیـن سـعیـد پـه مشـرۍ، د ګمرکونـو او عوایدو د عمومي ریاستونو د مسئولینو او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې او صنایعـو او کانونـو خونـو د استازو په ګډون؛ د مالیې وزارت او خصوصي سـکټور د اسـتازو ترمنځ د ستونزو د حل او همغږۍ ناسـته ترسره شـوې ده. د مالیې وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د ناسـتې په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین...٦مخ

هرات ښاروالي د یو میلیارد افغانیو په ارزښت ۸۰ پراختیایي پروژې پلي کوي

سـړ کال هـرات ښـاروالۍ د څه باندې یو میلیارد افغانیو په ارزښت ۸۰ سـترې پراختیایي پـروژې په خپل کاري پلان کې شاملې کړې، چې له دې جملې څخه ۲۷ پروژې عمـلاً پیـل شـوي او ۲۵ پروژې دتدارکاتـو په پراو کـې دي او ۱۸ نورې پروژې د سروې او د تخنیکي اسـنادو د چمتـو کولو پـه مرحله کې قرار لـري. په دغو پروژو کې د ترافیکي او سـوداګریزو زیرګذرونو جـوړول، دادارې ودانیو جوړول، اسـتنادي دېوالونـه، د سـړکونو روښـانتیا، د سـړکونو کانکریټ اچونه، د کانالونـو جوړول، د دوو نویو ناحیو لپاره د تفصیلي پلانونو چمتو کول، د شـنو سیمو پراختیا، د ښار ښکلا، پر سـړکونو د کرښو رسمول او د بلوارونو رنګول شامل دي.

کندز کې لسګونه انکشافي پروژې بشپړې شوې

د کنـدز ولایت د اقتصاد ریاسـت مسـئولین وایي: د تېـر قمري کال په تـرڅ کې په دغـه ولایت کې د ۷۶۷ میلیونه او ۷۰۰ زره افغانیو په ټولیز لګښت ۷۸ سترې او کوچنۍ انکشافي پروژې بشپړې شوې او د خلکو اسـتفادې ته وسپارل شوې.

د کنـدز د اقتصاد رئیـس، مولوي عبدالباسط لطیفي، وایي چې یادې پروژې د بېلابېلو بنسـټیزو او عامه خدمتونـو په برخو کې پلي شـوې دي. د ده په وینـا، د دغو پروژو په بشپړېدو سره د سیمې د اوسېدونکو ګڼې اوږدمهالې ستونزې... ٦مخ

پرداخت حقوق ورثه شهداء و معلولین در کاپیسا

ریاست شهداء و معلولین کاپیسا، در ۳ ماه اول سـال روان، بیش از ۷۷ میلیـون افغانی حقوق ماهوار ورثه شهداء و معلولین را پرداخت کرده اسـت. مولوی گل خان گل محمـد رئیس شـهداء و معلولین کاپیسـا، به خبرنگار آژانس باختر گفت که در ۳ ماه اول سال روان، بیـش از ۲۰ میلیـون و ۳۳۴ هزار افغانی، برای ۲۲۲۱ تـن از افراد دارای معلولیـت و بیـش از ۵۷ میلیون و ۶۱ هزار افغانی...ص٦

د ناقانونه ودانیو د مخنیوي لپاره منظم او معیاري ښاري پلانونه جوړ‌ږي

شریعت: د کـور او ښـار جوړولو وزارت مسـئولین وایـي: ناقانونه ودانۍ د ښـاري نظـم د ګډوډۍ، د سـړکونو او عامـه تاسیسـاتو د بندښـت، د خوندیتوب د معیارونو د نه مراعاتولو او چاپېریالي ستونزو لامل ګرځي.

د دوی پـه وینا، دغـه راز ودانۍ د راتلونکو پراختیایـي پروژو پر پلي کېدو هم منفـي اغېزې کوي. د یاد وزارت ویاند، محمد کمال افغان، شـریعت ورځپانـی تـه ویلي: د ناقانونـه ودانیـو د مخنیـوي لپاره وزارت منظـم او معیاري ښـاري پلانونه جوړوي، ښـاروالیو ته یې د تطبیق لپاره سپاري او... ٦مخ

نړۍ څار

ترکیې په سوریه کې جنګي بېړۍ ځای پر ځای کړې

راپورونـه وایي: د ترکیـې د دفـاع وزارت د بحري ځواکونـو د قوماندان "ارکومنت تاتلي" په مشـرۍ یې د لومړي ځل لپاره د سـوریې په "لاذقیه" بندر کې خپلې جنګي بېړۍ ځای پر ځای کړې دي. د بشـار الاسد رژیم له سـقوط وروسـته، ترکیه د سـوریې د پوځ په بیا رغولو کې د دمشق د یو نړدۍ ملګري په توګه رول لوبوي، خو د انقرې او دمشـق دغو نړدې اړیکو د اسـرائیلي رژیم سختې اندېښنې راپارولې دي. د اسرائیلي رژیم د انرژۍ وزیر ګواښ کړی، چې که ترکیه په سـوریه کـې پوځي اډې جوړې کړي، دوی به هـم ورته ګام پورته کـړي. له دې وړاندې تېر کال هم اسـرائیلي الوتکو په سـوریه کې هغه هوایي ډګرونه په نښه کړي وو، چې شک کېده د ترکي خواکونو له خوا د پوځي اډو په توګه کارول کېږي.

پاکستان کې ټرافیکي پېښې ۱۹ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د پاکسـتان د پنجاب ایالت د شـیخوپوره ولسـوالۍ په مربوطاتو کې یو بس له موټرسایکل سـره له ټکر وروسته چپه شوی چې له امله یې څلور تنه مړه شوي او ۱۵ نور ټپیان دي. د پاکستاني رسنیود راپور له مخې، دغه پېښه پرون د شیخوپوره ولسوالۍ د کالا خطایي سړک ته خبر مه په مریدکي سیمه کې شوې ده. په راپور کې ویل شوي: یادبس هغه ماتم کوونکي لېږدول چې په سیدواله سیمه کې په یوه مذهبي غونډه کې له ګډون وروسته لاهور ته ستنېدل. سرچینې لیکلي: چلوونکي له یوه موټرسایکل سره د ټکر د مخنیوي هڅه وکړه، خو پر بس یې کنټرول له لاسه ورکړ او چپه شو.

ایران: د امریکا وروستیو بریدونو کې لسګونه تنه وژل شوي

فارس خبري آژانس د ایران د حکومت د ویاندې فاطمې مهاجراني له قوله خبر ورکړی، چې د ایران په سویلي سیمو کې د امریکا د وروستیو بریدونو له امله له ۳۰ ډېر ملکي وګړي وژل شوي دي. د فارس خبري اژانس زیاتوي، چې د حکومت ویاندې په ټولنیزو رسنیو کې په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې په یادو بریدونو کې ملکي وګړي په نښه شوي او په پایله کې یې لسګونو بې‌ګناه خلکو خپل ژوند له لاسـه ورکړی دی. دې د قربانیانو له کورنیو سـره خواخوږي څرګنده کړې او ویلي یې دي، چې حکومت به د زیانمنو شویو خلکو ترڅنګ ولاړ وي. د ایران د حکومت ویاندې همداراز ټینګار کړی چې «د ایران سویل د دې هېواد ټپنده زړه دی» او د وژل شویو کسانو په یاد یې درناوی کړی دی.

هزینه واقعی جنگ امریکا با ایران تا ۱۰۰ میلیارد دالر برآورد شد



به گزارش شبکه خبری ان‌بی‌سی نیوز، پنتاگون به‌طور رسمی هزینه جنگ با ایران را حدود ۳۰ میلیـارد دالر اعلام کرده، اما برآوردهای داخلی و محرمانه امریکا نشـان می‌دهد که هزینه واقعی این جنگ بسیار بالاتر و بین ۸۰ تا ۱۰۰ میلیارد دالر بوده اسـت. این اختلاف چشمگیر در برآوردها، ناشی از هزینه‌های پنهان نظامی، لوجستیکی، پشتیبانی از متحدان منطقه‌ای، خسارات ناشی از اختلال در تجارت انرژی و افزایش قیمت جهانی نفت است. جنگ که از ۲۸ فبروری با حملات مشترک امریکا و اسرائیل بر ایران آغاز شد، علاوه بر هزینه‌های مستقیم نظامی، فشار سنگینی بر بودجه امریکا وارد کرده است. منابع آگاه به ان‌بی‌سی نیـوز گفته‌اند که بخش قابل توجهی از هزینه‌هـا به دلیل حملات متقابل ایران بر پایگاه‌های امریکایی در منطقه و اختلال در تنگه هرمز بوده است.